


[illegible]

مترجم : حافظ فضل محمد عمر

Ketabton.com

عمرخپرندویه ټولنه قندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دمضامینو فهرست

لړلیک مخ

ددي كتاب ټول حقوق دخپرندويه ټولني سره محفوظ دي:...........13
دكتاب لنډه پيژندنه: ..............................................13
ديباجه اومقدمه دمصنف: ......................................15
جسماني صحت اوجوړتيا: .......................................19
دروژې مسنونه طريقه:...........................................20
كله چي نوې ناوې كورته راسي: .................................21
دجماع په وخت كي دشيطان څخه حفاظت: ......................22
دكوروالي صحيح وخت : ..........................................22
دكوروالي آداب :...................................................22
دكوروالي په وخت كي خبري كول:...............................23
بغير دغسل څخه دكور والي تاوان:...............................23
په ولاړي كوروالي كول:...........................................24
دمياشتي په نيمائي كي كوروالي كول:............................24
دكوروالي څخه ورسته بولي كول:..................................24
دكوروالي څخه ورسته استنجاوهل: ...............................24

(c) ketabton.com: The Digital Library


25.......................... دکوروالي په وخت کي دښځي شرمګاه ته کتل
25.......................................دکوچني دپیداکیدوناجوړی اودهغې علاج:
25....................................دکوچني په غوږکي داذن اواقامت ویلوفایدې:
26.........................................خرماژول اودکوچني په خله کي ورکول:
26........................................... دکوچنی نوم په اوومه ورځ ایښودل:
26.................................................. دبدنظر څخه دحفاظت تعویذ:
27............................................ دکوچنیانوپه اخلاقوباندي دشیدواثر:
27....................................... دخوراک په وخت دشیطان څخه حفاظت:
27............................................................ دمالګي څکلوفایدې:
28..................................................دناروغ سره ډوډي خوړل:
28.............................................دخوراک په وخت کي یوڅودعاوي:
28.......................................... په خوراک کي دبرکت پیداکیدودپاره:
28.....................................................دبدهضمیٔمجرب علاج:
29...............................................دغریبي اومحتاجي څخه حفاظت:
29.......................................................... دفرشتودعاالخستل:
30............................................................. درزق دفراخي تدبیر:
30................................................دبرکت حاصلولودپاره عمل:
31....................................................دخوراک هضم کولوعلاج:
31........................................................... دزړه دطاقت علاج:
32.......................................................دمچ دزهروڅخه شفاء:

(c) ketabton.com: The Digital Library


په خوراک څښاک کي دزهروڅخه حفاظت:..........32
ددې دعايوپه زړه پوري قصه:..........33
دهاضمې علاج:..........33
دغابش دتکليف علاج:..........34
په خوراک څښاک کي بې برکتی:..........34
دلږخوراک فايدې:..........35
دډير خوراک تاوانونه:..........35
دخاوري خوړلوتاوانونه:..........36
دغوښې خوړلوفايدې:..........36
دبدن دکمزوري علاج:..........37
دانځر فايدې:..........37
دزيتون اودزيتون دغوړوفايدې:..........37
ترډيره وخته پوري دځوان پاته کيدوعلاج:..........38
دخرمافايدې:..........38
دجادواوزهروعلاج:..........39
ددماغ دطاقت پيداکولودپاره علاج:..........39
دزړه اودماغ دکمزوري علاج:..........40
دمعدې دبخار علاج:..........40
ددماغودخشکی اودخارش علاج:..........41
دقوت باه ډير والي:..........41

(c) ketabton.com: The Digital Library


دويني دصافولوعلاج:..........................................41
دنس درطوبت اوډير وناجوړيوعلاج:........................................42
دويني دصفاكيدوعلاج:..........................................42
دقوت باه علاج: ..........................................43
په پوڅکۍ باندي دسترګودناجوړيوعلاج:..............................43
دپوڅکۍ نورخاصيتونه: ........................................44
دسترګودخوږوالي اودردعلاج:........................................44
دسترګوڅخه دغبار ليري كولواونظرتيزيدودپاره علاج:..............45
دكمزورئ اومردانه قوت دحركت دپاره: ..................................45
دخوږسترګوعلاج:..........................................46
دنظر دتيزيدوعلاج: ..........................................46
دعام جسمانی طاقت اوقوت باه علاج: ..........................................47
په سبزی جاتوسره دناروغي علاج:..........................................47
په شيدوسره جسماني طاقت پيداكول:..........................................48
دعسلو خاصيتونه اودهر ې ناروغي څخه شفاء:..........................................48
دنس ددرداودهاضمې علاج:..........................................49
دكنځلو(تل)خاصيتونه اودناجوړيوعلاج: ..........................................49
په اوبوسره دتبي علاج:..........................................50
دامل بندول اوعسل: ..........................................51
دجوز اوپنير خاصيتونه:..........................................51

(c) ketabton.com: The Digital Library


دشوندخوصيات اودناجوړيوعلاج:.........................................52
ترډيره وخته بدن جوړساتل:.........................................52
داستسقاء (وبا)علاج اودرې قسمونه:.........................................53
داوښي په شيدواوبولوسره دلمحي علاج: .........................................53
دزخم وينه بندول:.........................................53
دسردرداودخرابي ويني علاج: .........................................54
دعرق النساءدرددپاره علاج:.........................................55
دقبض علاج اودسناء خلاص:.........................................55
په كلونجي دعاموناجوړيوعلاج: .........................................56
په كوچنيوناجوړيودلويوناجوړيوكفاره:.........................................57
جسماني ناروغي اوداوړي خاصيتونه:.........................................57
دلمرتودې اوبه فيس ناجوړي پيداكوي: .........................................58
دخارش علاج: .........................................58
دذات الجنب ياپښتي دردعلاج: .........................................59
دسر دردعلاج اودنكريزوخاصيتونه:.........................................61
دكوچنيانودحلق ناجوړي:.........................................62
دقسط بحري فايدې:.........................................63
دزړه درداودهغه علاج: .........................................63
علاج اوپرهيز كول سنت دي: .........................................64
دخد اوبي حسي علاج:.........................................65

(c) ketabton.com: The Digital Library


دثبره اوددانوعلاج:.........................................................65
دمریض په پوښتنه کولوباندي دمریض تسلي کیدل: ............66
دغصې اوقهر لیري کولوعلاج:..............................................66
دناروغي اوغم علاج:...........................................................67
دزهروتاوانونه اوعلاج یې:......................................................68
دقي په ذریعه دناروغیوعلاج:................................................69
دمولي دبوي علاج:...............................................................70
هریړه اوددې فایدې: ..........................................................70
دکرفس اونرګس فایدي...........................................................70
دلوبیاخاصیتونه اوفایدې: ......................................................71
دهندوانې خاصیتونه اوفایدې:..................................................71
نسیان هیره پیداکیدونکي شیان:...............................................71
دمشک خاصیتونه اوفایدې: ...................................................72
درنجوصحیح طریقه: ............................................................72
دخوشبوئي فایدې اوخاصیتونه:.................................................73
دشپې اوپه جاموسره دجاروکولونقصانونه:......................................74
دمختلفوخوراکونوجمع کولونقصان: ...........................................74
دخوراک څخه ورسته سپورت کول: ...........................................74
دمسواک فایدې اوخاصیتونه: ...................................................75
دخوب فایدې اونقصانانونه: ......................................................76

(c) ketabton.com: The Digital Library


دآب زمزم فايدي اوخاصيتونه: .......................77
دابوخيښنلوصحيح طريقه:..............................77
درتولوغوره اوبه کومي دي؟ .............................79
ددوايانودوه قسمونه دي:................................79
دعام تعويذدکولوحکم:.................................80
دمنتر(تعويذ )حکم: ...................................81
په روحانيادوياتوسره دعلاج طريقه: ....................81
دويمه حصه:.........................................83
دالله تعالی□په نومونوسره علاج کول:...................83
په دعاويلوسره دتبی علاج: .............................83
دسترګي دتکليف دعا:.................................83
دعامو ناجوړيودپاره دعا: ...............................84
دمارخوړلي دپاره دعا:.................................84
دقران کريم څخه دجسماني اوروحاني ناروغيوعلاج:.........85
دسوره فاتحې خاصيتونه:..............................86
دليونتوب ليري کولوعمل:.............................86
دهرقسم درددپاره عمل:...............................87
دډيرامراضودپاره دعا: ................................87
دلړم خوړلي دپاره دعا:................................88
دزخم اودانوعلاج:....................................89

(c) ketabton.com: The Digital Library



دطاعون اووباعلاج: ........................................89
دوباطبی علاج: ..............................................91
دسحر جادوعلاج: ..........................................92
دنمله علاج:....................................................94
دنقصان لري کولوعلاج: ...................................94
دنظرکیدلوعلاج:..............................................95
دبدنظر علاج:..................................................97
دبدنظر زخم: ..................................................98
دهرقسم بلااوآفتونوڅخه دحفاظت دعا:...................98
دغم اوفکر لیري کولودپاره دعا:............................99
دحاجت پوره کولودپاره دعا: ...............................99
دلیوني سپی دخوړلودپاره دعا:..............................99
دماشومانودحفاظت عمل:.....................................99
دآسیب لیري کولوعلاج:....................................100
دجسم دحفاظت دپاره دعا:.................................100
دقرض داداکیدودپاره دعا:.................................100
دغم اوفکر دپاره دعا:......................................101
دشیطان څخه دحفاظت دعا:...............................102
دبدن دروغوالي دپاره دعا:...............................102
دهر قسم شر اوآفتونوڅخه دحفاظت دپاره دعا:.........102

(c) ketabton.com: The Digital Library


دناجوړی او غم لیري کیدولودعا:.......................................103
دهر قسم شراوبلاڅخه دحفاظت دعا:.............................104
ددعاذالنون دویلوطریقه: ...........................................104
دخپل ځان اوهمسایه دحفاظت دپاره دعا:......................105
دنسیان (هیری)دعا: ..................................................105
دقرض داداکیدودعا:.................................................106
دحیوان دسر کښی په وخت کي دعا: ............................106
دهر قسم ناجوړیودپاره دعا: .........................................107
دغرقیدوڅخه دحفاظت دعا:........................................107
دجادولیري کولودپاره دعا:.........................................107
دپریشاني اوتکلیف دعا: ...........................................108
دغلوڅخه دحفاظت دپاره دعا: ....................................108
دناروغي څخه دشفاپیداکولودعا: ..................................108
دزړه دسختي دپاره دعا:............................................109
دفقر اولوږي لیري کولودپاره دعا: ..............................110
دولادت داسانتیادپاره دعا:........................................110
دوسوسې دفعه کولودپاره دعا:....................................111
دورک سوي شي دپاره دعا: ......................................111
دبازاردشرڅخه دحفاظت دپاره دعا:..............................111
دناروغۍ څخه دحفاظت دعا:......................................112

(c) ketabton.com: The Digital Library


دفحش (بدردڅخه)دحفاظت دپاره دعا:.................................112
دوسوسوڅخه دحفاظت دپاره عمل:........................................112
دنعمت دزياتيدودعا:.....................................................113
دمال دزياتيدلودعا:......................................................113
ددرودشريف فايدي اوخاصيتونه:.........................................113
يادونه:......................................................................115

(c) ketabton.com: The Digital Library



قُلْ هُوَ لِلَّذِينَآمَنُوا هُدًى وَشِفَاء:

ترجمه

ووایه ای پیغمبره دادمومنانودپاره هدایت اوشفاء دی

# طب نبوی

په دي مشهور اومتبرک کتاب کي دهر رقم
ناجوړیوعلاجونه دقرآن اوحدیثو په رڼاکي بیان
سویدي په هر کور کي دساتلوقابل دی.

مصنف :مولاناحافظ اکرام الدین واعظ رحمة الله علیه

**مترجم : حافظ فضل محمد عمر**

ناشر :عمرخیرندویه ټولنه قندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددي كتاب ټول حقوق دخپرندويه ټولني  سره محفوظ دي:

دكتاب لنډه پيژندنه:

دكتاب نوم---------------------طب نبوی

مصنف--------- مولاناحافظ اكرام الدين واعظ رحمة الله عليه

پښتوترجمه ------------ حافظ فضل محمد عمر

كمپيوټر سمبالونكي -------------عمرخپرندويه ټولنه قندهار

تعداد چاپ ----------------------------١٠٠٠

دچاپ كال ------------------------------١٤٣٦هجري

ناشر ------------------ عمر خپرندويه ټولنه قندهار

اړيكه -------------------------٠٧٠٠٨٨٦٣٠٠

دخپروني لړ-----------------------------(١)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلغ العلی بکماله
کشف الدجی بجماله
حسنت جمیع خصاله
صلوعلیه واله

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ديباجه اومقدمه دمصنف:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم الحمد الله الذى هويطعمنى ويسقينى واذامرضت فهويشفين والذى يميتنى ثم يحينى والصلوة والسلام على خير خلقه محمد واله واصحابه اجمعين:ورسته هر انسان ته دهر څه درمخه دا زده کول پکار دي چېالله □زه صر ف اوصرف دعبادت دپاره پيداکړی يم .دالله □عبادت درهغه وخته پوري په ښه اوکامله توګه نسي کيداي ترڅوچي انسان دپوره صحت اوروغتياخاوندنه وي صحت اوروغتياپردي باندي ولاړ دي چی بنده خپل جسماني روغتياته پاملرنه وکي .په عام ډول د دې دپاره څلور مروجي طريقې دی . دعا،تداوي ،عمل، پرهيز ،ليکن دجسماني مرضونوبعضي علاج کونکي مثلاً جالينوس وغيره چي هغه صر ف په تجربه قائل دی دمرض ليري کيدولپاره دعا کافی نه بولي .اودمسلمانانوپه حق کی وائي چي دوي ناپوه خلګ دي ځکه چي دمرض ليري کيدودپاره ددعاء قائل دي. ددوي دافکر دی چي ددعا تعلق يوازی دژبي سره دی .اوپه جسماني مرضونوکي ددې هيڅ اثر نسته ليکن دامفکوره غلطه ده ځکه دخبروپه اثرکولوباندیهر سړي پوهيږي لکه چي يومشهور متل دی (دتوري زخم جوړيږي خودژبي زخم هيڅ کله نه جوړيږي )دمثال په ډول که يوکس وبل کس ته بده خبره وکي نوحتمادمخاطب په زړه کي دکسات جذبه راپيداسي .دغه رنګه دښه خبري اثر هم دظاهر څخه دانسان وزړه ته رسيږي کله چي ديومعمولي انسان په خبره کي دومره اثره سته نودالله □ په کلام کي به ولي اثرنه وي ؟ددې سره سره که څوک ددعا قائل نه وي نوښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


خبره ده چې دادهغه ناپوهيده.ځکه چي مذکور کس دښنه اوبدي خبري داثر قائل دي .خودالله تعالی دکلام داثر قائل نه دی . نتيجه دخبروداده الله تعالی انسان ددوشيانوڅخه جوړکړی دی يوجسم (بدن )دويم روح رسول الله چې رحمة العالمين دی دروحانی مرضونوسره په څنګ کي دجسماني مرضونوعلاج (تداوي)راښوولې ده.ځکه که چيري رسول الله تاسوته دجسماني ناجوړيوعلاج نه وائي درښودلي نوداسلام دښمنانوبه دنبي اودهغه څخه په ورسته دامت دعالمانوپه حق کی اعتراضونه کوه لاي.چي الله ته دټولي دنيادپاره رحمت څنګه رالیږلي يی؟ځکه چي دبنده جسم خوهم په دنياکي داخل دی اوتاته دهغه داصلاح هيڅ خبر نسته.نودبدن دپاره په هيڅ صورت رحمت نه سی بلل کيداي.نودغهاعتراض ته جواب ويل دهر چادپاره مشکل وو.نوددې کبله الله تعالیونبی کريمته دبدن اوروح دواړوعلاج ښوولي دی. خوپه دې خبره ځان پوهول ضروري دي چی حکماء جسماني علاج يوازي په دواباندي کوي.دوي په دوااودعادواړوسره دخپل امت علاج کوي ولی چی داتجربه دمودوراهيسي موجوده ده چي ډير داسي مرضونه سته چې دهغه علاج په تداوي کولوسره نه کيږي .لکه جادو،پيری،اونظر کيدل ددغه مرضونوعلاج يوازي دالله په مقدسونومونومبارکانواودعاووسره کيږي بلکه ډير عملونه لادرمخه انسان ته ورښودل سويدي چي دهغوپه کولواوعملي کولوسره هيڅ بلانه سی راتلاي.دهغه تفصيلي بيان به انشاء الله په کتاب کي هم راسي.داخصوصيت يوازی دانبياء عليهم السلام دي چي دناجوړيدراتګ څخه درمخه علاج وښئ اودرحمة العالمين هم دغه معني ده.داخبر

(c) ketabton.com: The Digital Library


دیادولوووړده چي دطب نبوي تعلق دوحي سره دي اوعام دنياوي علاجونه يوازي تجربه ده بعض خلګ تجربه يقين ته نژدې بولي ليکن تجربه دوحي مقام ته هيڅ کله نه سي رسيدلي نوکه چيري څوک دطب نبوي په ذريعه دخپل جسم علاج کول غواړي نوهغه ته پکارده چيلمړی په خپل زړه کي دطب نبوي په اړه په خپل زړه کي عقيده ټينګه اومضبوطه کي ولي چي ددې څخه بغير فايده نه حاصليږي.که څوک په دي کي خپل عقل ته دخل ورکوي نوهغه ددې دفايدوڅخه محروميږي ولی چې انبياءعليهم سلاممعالج روحاني دي څرنګه چيددوې روحاني علاج وعقل ته نسوننوتلاي دغه رنګه جسماني علاج هم دعقل موافق نه سي کيداي .نوددې کبله مسلمانانوته پکارده چي دناروغيوعلاج په تداويسره هم وکړي اوپه دعاسره هم.بايديوازي په دواسره علاج ونه کړل سي دواهم دتدبير په درجه کي ضروري ده خوشفاء ورکول دالله تعالی دطرفه څخه ده اودوادسبب اوتدبير څخه پورته اثر کونکې بلل نامناسب دي اوکوم څوک چي يوزاي دوابالذات اثر کونکي ګڼي نوهغه مشرک دي ددغه وهم دوجي بعضوعالمانودوامکروه بللي ده ددې دپاره چي دواخستونکي ورباندي اعتماداوباورونکړياودمرګ په وخت کي فرشتي ووائي چي ذلک ماکنت منه تحيد (يعني داهغه مرګ دي چي ته څني تښتيدلي)يعني چي لږ بيماري به درته راتله نوددواوخواته به دي ځغستل اوپه خپل خالق يعني الله باندييه دې اعتماد نه کوي ليکن سمه خبره داده چي دواکول هم سنت ده اوضروري ده ځکه چي اسامه بن شريک فرمائي زه يوه ورځ درسول الله په خدمت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


حاضر سوم خلقوپوښتنه څني کول چي يارسول الله که موږ دناجوړي په وختکي دواکووکومه ګناه خونه ده؟داچي رسول الله واوريدل نووئي فرمائل چي دواکوئ اي دالله بندګانوالله تعالي چي څومره مرضونه پيداکړي دي نودهغودپاره ئي دواياني هم پيداکړي دي ليکن مرض دمرګ ددې څخه ماسوادي.ددې حديث شريف څخه معلوميږي چي دواکول هم جائز دي.اوداښکاره سوه چي دجسماني ناجوړيوعلاج په څلورطريقوسره کيږي.۱په دواسره ۲په دعاسره ۳ديوخاص عمل په کولوسره۴په پرهيز سره(ديوه عمل په پريښودلوسره.اوپه دعاسره علاج کول دانبياءعليهم السلام دپاره مخصوص دي.په دي کي بل څوک شريک نه دي.په دې وجه په دې کتاب کي دعلاج څلورطريقي په تفصيل سره ذکر کيږي اودهر علاج دپاره درسول الله احاديث سره دکتابونودحوالې بيانيږي.ورسره دعلماوواقوال هم رانقل سويدي.ځکه چي علماء درسول الله نائبان اودحديثوشرح کونکي دي.دکم حديث اوقول ذکر چي کيږي ددې په شروع کي لفظدعلاج ليکل سويديځکه دطب نبوي دپارهدالفظ مناسب دي په دې لنډاومختصرکتاب کي بابونه اوفصلونه نه دي ورکړل سوي ځکه دادلويوکتابونودپاره مناسب دي.دجسم دصحت دپاره تر ټولوضروريعلاج نکاح کول دي.ځکه نوددې علاج څخه پيل کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## جسماني صحت اوجوړتیا:

علاج:په صحيح بخاري شريف كي دحضرت عبادة څخه مرفوعاً روايت دي(فمن رغب عن سنتي فليس مني)ترجمه:رسول الله□فرمائلي دي چي زه دښځونكاح كوم كم څوک چي زمادطريقې څخه انكاركوي هغه زماڅخه نه دی.اوپه سنن ابي داود،نسائي اوحاكم كي دمعقل بن يسار څخه مرفوعاً روايت دی

" تزوجوا الودود الولود فإني مكاثر بكم الأمم"ترجمه:رسول الله□فرمائلي دي دداسي ښځوسره نكاح كوي چي دخپلوخاوندانوسره مينه كوي اوډير بچيان پيداكونكي وي ځكه چي زه به ستاسودډيروالي دكبله دآخرت په ورځ نورواُمتونوته فخركوم.اوپه صحيح بخاري اومسلم كي دحضرت عبدالله ابن مسعود څخه مرفوعاً روايت دي

(يا معشر الشباب من استطاعمنكم الباءة فليتزوج فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء)(ترجمه)درسول الله□حديث شريف دی چي ای دځوانانوډلي په تاسوكي چي څوک دنكاح وس لري هغه بايدنكاح وكي ځكه چي نكاح كول ستركي دكناه څخه كښته كوي اوعورت دبيځايه استعمال څخه بندوي.څوک چي دنكاح كولو طاقت نه لري هغه دي روژې ونيسي ځكه چي روژي شهوت كموي.فائده:په حديث شريف كي دوه علاجونه راوه ښودل سوه.يونكاح كول.دويم روژې نيول.په نكاح كولوسره بدن دخرابي ويني اوخرابودانواوناجوړيوڅخه محفوظ پاته كيږي.ليكن دډيروجماعوڅخه پرهيزلازمي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی.ولي چي دانسان بدن کمزوري کيږي.اوپه رنګ رنګ ناجوړيواخته کيږي.که څوک دغربت په وجه دواده کولوطاقت نه لري.نوبايدروژي ونيسي.ځکه چي د روژي په نيولوسره درطوبتزياتوالي نه راځي اودبلغمي امراضوڅخه خلاصيږي.ليکن داضروري ده چي روژه به دسنت طريقي مطابق وي ځکه بعضی وختدروژوددېر والي دکبله دبدن رطوبت وچ سی دغه رنګهآخر مزاج سوداوي سي (دليونتوب بيره وي.

## دروژې مسنونه طريقه:

دروژې مسنونه طريقه داده چي په هفته کي دي دوي ورځي روژه ونيسي يوه دشنبي په ورځ اوبله دپنجشنبي په ورځ.ځکه چي ددې حکم په مسلم،ابوداود،اوترميذي کي په ډيروحديثوکي راغلی دی اوپه هره مياشت کي دې درې روژي نيسي دارسول الله□په څوطريقوسره نيولي دي.دنيټي په حساب ددیارلسم،څوارلسم،اوپنځلسم ورځ به رسول الله□روژه نيول.اوکله به يی دورځوپه حساب سره په مياشت کي يوځل روژې ونيولي دشنبې يکشنبې اوچهارشنبې په ورځوکي.اوپه بله مياشت کي به يي دنهي سه شنبې اوچهارشنبې په ورځو روژه ونيول.جامع ترميذي دحضرت عائشې رضی الله تعالی□عنهاڅخه يوحديث رانقلکړيدي چي بعض وختونه به رسول الله□دورځواوتاريخ خيال نه ساتي خوکله چی به يی وغوښتل نودادرې روژې به يی نيولي.دغه حديث مسلم،ابوداود،اوترميذي رانقل کړيدي.اوپه ټول کال کي سنت طريقه داده چي دروژې مبارکي مياشتي روژه پوره ونيول سي،اودکوچني اختر دمياشتي شپږروژې،دمحرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


دمياشتي دوې روژې،دلوي اختر دمياشي نه روژې په اولولس ورځوكي،كوم بنده چي داروژې په مسنونه طريقه سره ونيسي دهغه دبدن رطوبت به نه ډيركم اونه به ډيروچ سي.مصنف دغاية الاحكام ليكلي دي چي كوم بنده چي دناچارى دكبله نكاح نسي كولاي،روژه هم نسي نيولاي،نودشهوت دكمولودپاره علاج هم صحيح دي.

## كله چي نوې ناوې كورته راسي:

علاج:نودناوي لاس دي ونيسي اودادعادي ووائي

الهم اني اسئلک من خيرهاوخير ماجبلتهاعليه واعوذبک من شر ماجبلتهاعليه(ترجمه )اې الله□زه ددې دښه والي اوددې دعيبونودښه والي سوال كوم اوددې دبدى اوددې دعيبونودبدي څخه پناه غواړم.فايده:داروايت په ابوداوداوپه نوروكتابوكي دعمروبن سيف څخه رانقل سويدي.ددې دعابركت دادي چي الله□ددې ښځي څخه بدوالي ليرې كي.اوپه دغه كوركي نيكي خپره سي.اوكه څوک مينځه،مريى،اوياېوحيوان رانيسينودهغه پرتندي باندي دي لاس كيږدي اودغه دعادي ووائي.اوپه شرعة الاسلام كي داطريقه دسنت موافق داسي ليكليده چيكله ناوې كورته راوستل سي نودهغې دواړي پښي دى پريمنځل سي هغه اوبه دي دكورپه كونجانوكي وپاشل سي.الله تعالي□به په كور كي خير اوبركت راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دجماع په وخت کي دشيطان څخه حفاظت:

علاج:دجماع څخه مخکي دي دادعاوايی.

بسم الله الهم جنبناالشيطان وجنب الشيطان مارزقنا:(ترجمه )شروع کوم په نامه دالله□ ايالله□ موږدشيطان څخه ليري که اوکوم نعمت چي تاموږ ته راکړی دی دهغه څخه شيطان ليري که داروايت په ډيروکتابونواواحاديثوکي سته که څوک وغواړي نوکتلييي سي.فايده:ددې دعاپه برکت سره اولادنيک بخت اوشيطان ورڅخه تبنتي.

## دکوروالي صحيح وخت :

علاج:فقيه ابواليث په خپل کتاب بستان کي ليکلي دي چي دکور والي دپاره ترټولوښه اوغوره وخت دشپې آخرني حصه ده.ځکه دشپې په اوله حصه کي معده دغذاڅخه ډکه وي.دکوروالي په وختکي بايدمخ وقبلې ته نه وي.

## دکوروالي آداب :

علاج:سړی اوښځه بايددکور والي په وخت کي لڅ نه وي په پوشي بايدپټ وي.ځکه چي رسول الله□فرمايلي دي تاسودوحشي حيواناتورنګه ځانونه مه لڅوئ.او فقيه ابواليث په خپل کتاب بستان کي ليکلي دي چي په لڅ بدن کوروالي څخه اولاد بي حياپيداکيږي.حضرت علي رضي الله تعالي عنه فرمايلي دی رسول الله □ته يوسړی راغی داشکايت يی وکی چي زماپه کور کي اولاد نه پيداکيږي.رسول الله□ورته داعلاج وښودی.چی ته اکی خوره دحضرت ابوهريرة رضي الله تعالي عنه څخه روايت دی چي رسولالله□خپل دمردانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


قوت (قوت باه)شکایت وجبرائیل علیه السلام ته وکینوجبرائیل علیه السلام ورته وفرمایل چي تاسوهریسه خورئ.ځکه په دې کي دځلوېښتوخلکوطاقت موجوددی.حضرت آنس ابن مالک رضي الله تعالي عنه فرمایلي دی چي درسول الله□حدیث دی چي تاسونکریزي استعمالوئ ځکه نکریزي مردانه قوت (قوت باه) پیداکوي.او حضرت هزیل بن حکم رضي الله تعالي عنه فرمایلي دی چي درسول الله□حدیث دی چي دبدن ښځه دوریښتانوپوستکي لیري کول قوت باه زیاتوي.داځلور حدیثونه غاية الاحكام ذکرکړي دی.

## دکوروالي په وخت کي خبري کول:

علاج:فقیه ابواللیث په خپل کتاب بستان کي لیکلي دي چي دکور والي په وخت کي ډیري خبری مه کوئ داولاددګونګي پیداکیدو خطره ده.

## بغیر دغسل ښځه دکور والي تاوان:

علاج:که چاته یوواري احتلام سوي وي اوبغیر دغسل کولوښځه دوهم ځل د خپلي ښځي سره کوروالي وکي نوداخطر ه سته چي اولادبه بخیل اویالیوني پیداسي.دداسي کړني ښځه ځان ساتل پکاردي.داعلاج صاحب احیاء په بستان کي لیکلي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په ولاړي کوروالي کول:

علاج:صاحب فقيه ليکلي دي چي په ولاړي سره د کوروالي ښځه دبدن ضعف اوکمزري پيښيږي.اوپه ډک نس کوروالي کول مناسب نه دي ځکه اولادکم عقل پيداکيږي.

## دمياشتي په نيمائي کي کوروالي کول:

علاج:ابونعيم په کتاب الطب کي ليکلي دي چی رسول الله□وحضرت علي رضي الله تعالي عنه ته فرمايلي وه چي اي علي رضيالله تعاليعنه دمياشتي په نمائي(پنځلمه نيټه)کيکور والي مه کوه ځکه په دغه نيټه کي شيطان راځي.

## دکوروالي ښځه ورسته بولي کول:

علاج:صاحب شرعة الاسلام ليکلي دي چي دکور والي ښځه دفارغ کيدوورسته بايدبولي وکړل سي کنه نوپه لاعلاجه ناجوړي به اخته سي.

## دکوروالي ښځه ورسته استنجاوهل:

علاج:فقيه ابوليث ليکلي دی چي دکوروالي ښځه ورسته خپل اندام مخصوصه پريمنځلضروري ديځکه بدن ته طاقت ورکوي .خودکوروالي ښځه متصل نه بلکي څه وخت ورسته ولي چي متصل دتبي خطره سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دکوروالي په وخت کي دښځي شرمګاه ته کتل

علاج:صاحب شرعة الاسلام ليکلي دي چي دکور والي په وخت کي دښځي شرمګاه ته مه ګورئ ځکه چي داولاددړانده پيداکيدوخطره ده.

## دکوچني دپيداکيدوناجوړی اودهغې علاج:

علاج:فتاوي حجت ليکلي دي چيکهدکوچني دپيداکيدلوپه وخت کي تکليف وي نوداتعويذ دي وليکلي په سپين رنګ ټوکر کي دي پوښ ورکي اودښځي په چپه ورانه پوري دي وتړي نوانشاء الله دماشوم دزيږيدوپه وخت کي به ورته تکليف نه وي تعويذ دادي.(بسم الله الر حمن الرحيم وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ 4 وَأَذِنَتْلِرَبِّهَا وَحُقَّتْاَهِيًااِشرَاهِيًا)(ترجمه)شروع کوم په نامه دالله□چي رحمن اورحيم دي اوکله چي مځکه راوباسي چي څه پکښې دي اوخالي کړل سي اودخپل رب حکم واوري هغه ددې لائق دی.

## دکوچني په غوږکي داذن اواقامت ويلوفايدې:

علاج:کله چي کوچني پيداسي نودهغه په راسته غوږ کي دسهار آذان اوپه چپه غوږ کي اقامت کول لازمي دي.ددغه آذان اواقامت په برکت سره کوچني دام الصبيان څخه محفوظ اوپه امن کيږي.په احياءالعلوم کي داعلاج ليکلي دی.دحصن حصين په حاشيه کي دامضمون ديوه حديث مرفوع څخه ثابت سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## خرماژول اودکوچني په خله کي ورکول:

علاج:دکوچني دپيداکيدولږورسته دې لږخرماوژول سي اودکوچني په خله کي دې ورکړي.اودکوچني دپاره دي دعاوکي.دبعضي عالمانودانظر دي چي په دغه علاج سرهکوچنی دښه اخلاقوخاوند ،حليم،اوبردباره سړی جوړيږي.

## دکوچنی نوم په اوومه ورځ ايښودل:

علاج:په حديث شريف کي راغلي دي چي کله کوچنی پيداسي نوپه اوومه ورځ ښه اوغوره نوم پرکوچنی ايښول ضروري دي ځکه رسول الله□فرمايلي دي چي دکوچني دپاره ښه نوم انتخاب کئ لکه عبدالله عبدالرحمن بدنوم دکوچني دپاره بدفالي (شګون)دی. دکوچني سر وروخروئ دوريښتانودوزن په اندازه چاندي خيرات کئ اويوياډوه پسونه حلال کئ اوخيرات يی کئ ددې په برکت سره به کوچنی محفوظ سي.

## دبدنظر څخه دحفاظت تعويذ:

علاج:که کوچنی نظر سوي وي نوداتعويذ دي وليکل سي اودهغه په غاړه دي سي تعويذ دادي.

اعوذبکلمات الله التامةومن کل عين لامة(ترجمه)پناه غواړم الله□دکلمات تامة په ذريعه دشيطان مردوداودهربدنظره څخه.فايده:دکوچنيانودنظر کيدوڅخه دساتلودپاره داتعويذ ډير مجرب دي.په حديث شريف کي راغلي دي چي رسول الله□دغه تعويذ حسن اوحسين ته ورپه غاړه کړي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دکوچنيانوپه اخلاقوباندي دشيدواثر:

علاج:په تفسير زاهدي کښي ليکلي دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي خپل کوچنيان دبدوښځودشيدوخوړلوڅخه وساتئ ځکه دشيدوآثر دکوچني په بدن اواخلاقوباندي کيږي.

## دخوراک په وخت دشيطان څخه حفاظت:

علاج:کم سړی چي غواړي دخوراک په وخت کي دې دشيطان دشر څخه محفوظه سي نوهغه بايد دبسم الله په ويلوسره په خوراک شروع وکړئ.خوراک بايد په راسته لاس سره وکړئ.ځکه چي شيطان په چپه لاس سره خوراک ښباککوي.په کوم خوراک چي دالله□ نوم ذکرنه سي نوهغه دشيطان دپاره حلال وي داروايت ابوهريره رضی الله تعالي عنه رانقل کړي دی.

## دمالګي څکلوفايدې:

علاج:صاحب جامع کبير دحضرت علي رضی الله تعالي عنه څخه نقل کوي چي رسول الله□فرمايلي دي چي خوراک په مالګه څکلوسره شروع کوئ ځکه چي په مالګه کي داويا(۷۰)ناروغيودپاره شفا اچول سوي ده چي دهغودجملې څخه يوڅودادې جذام ،ليونتوب،دنس درد،اودغاښ دردوغيره والله□اعلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دناروغ سره ډوډي خوړل:

علاج:که اتفاقاً يوڅوک دناروغ سره په ډوډي کي ملګري سي نودادعا دي وائي.بسم الله ثقة بالله وتوکلاعليه (ترجمه)شروع کوم په نامه دالله□سره اوپه ده باندي باورکوم اوخوراک کوم.ددي دعادويلوپه برکت سره به دناروغ دناروغي څخه په امن سي.

## دخوراک په وخت کي يوڅودعاوي:

دخوراک ورسته دادعاده(الهم بارک لنافيه واطعمناخيراً منه)(ترجمه)اي الله□زموږدپاره په دې کي برکت واچوه اوددې څخه بهتره راکړئ.چي شيدې څيښو نودادعابه وايو(الهم بارک لنافيه وزدنافيه)(ترجمه)ايالله□زموږدپاره په دي کي برکت واچوه اوزموږدپاره دازيات کړئ.انشاء الله□ددې دعاوپه ويلوسره په خوراک کي برکت راځي.

## په خوراک کي دبرکت پيداکيدودپاره:

علاج:فقيه ابوليث دحضرت حسن رضی الله عنه څخه روايت نقل کړي دي چي رسول الله□فرمايلي دي چي دلوښي دمينځ څخه خوراک مه کوئ ځکه چي په مينځ کي برکت نازيليږي داحديث سعيدبن جبيررضی الله عنه دحضرت عباس رضی الله عنه څخه رانقل کړي دی.

## دبدهضمیمجرب علاج:

علاج:په قادری کي ليکلي دي چي په تکيه وهلوسره خوراک کولوڅخه بدهضمي پيداکيږي.فايده:په بستان کي ليکلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي دېوډي ښځه درمخه اوورسته دلاسويه پريمنځلوسره برکت راځي.درسول الله ارشاددي چي زه په تکيه لګولوسره خوراک نه کوم ځکه په تکيه لګولو،ولاړي،په سورلۍ سپور،دخوراک دخوړلوښځه بدهضمي پيداکيږي.ددې په خلاف خوړلوسره هضم کيږي اوتکبر (غټ والي)ليري کيږي.

## دغريبي اومحتاجي ښځه حفاظت:

علاج:صاحب مطالب المومنين دحضرت علي رضی الله عنه ښځه نقلکوي چيکه پر چاباندي غسل وي نوبغيرغرغړې ښځه دي خوراک نه کوي ځکه دخوراک په کولوسره دغريبۍ اومحتاجۍ خطره ده.

## دفرشتودعااخستل:

علاج:په بستان اونوروکتابونوکي د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه ښځه روايت دی چي رسول اللهفرمائلي دي چي کم بنده چي لوښي وختي اوپاک يی کړي نوهغه لوښی دده په حق کي دعاکوي چي اي اللهدغه بنده داورښځهخلاصکړه ځرنګه چي ده زه  دشيطان دختولوښځه خلاص کړم.رسول اللهفرمائلي دي چي داللهمقرري فرشتې دهغه سړي دپاره دعاکوي کم څوک چي دخوراک ورسته ګوتي ښتي.ددې عمل په کولوسره دتکبر دمرض علاج هم کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## درزق دفراخي تدبير:

علاج:په عمرة الاسلام کي درسول الله ﷺ ارشاد دی هغه څوک چي هميشه دسترخوان څخه لويدليطعام خوړئ نودهغه رزق به هميشه فراخ وي.دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ فرمائلي دي چيکه دګولي څخه يوڅه ولويږي نوسړی بايد هغه راپورته کي اووې خوری دشيطان دپاره يي نه پريږدي.فايده ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي داعمل دتکبر ښه اوبهتره علاج دی.په بل حديث شريف کي راغلي دي چي څوک دسترخوان څخه لويدلي طعام راپورته کي اووې خوري نودادجنت دحورودپاره مهر سي.اوالله تعالي ﷻ به دی اودده اولادونه دجذام،برص (برګی)اودليونتوب دمرضه وساتي.

## دبرکت حاصلولودپاره عمل:

علاج:په عمرة الاحکام کي درسول الله ﷺ څخه روايت دي چي فرمايلي يی دي اي خلګويه شريکه (جمع واري)خوراک کوي ځکه چي په دې کي الله تعالي ﷻ برکت اچوي.د حضرت جابررضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ فرمائلي دي چي ترټولوبهتره اوخوږ.خوراک اوږودي هغه ده چي ډير لاسونه پکښې وي (ډير خلګ يی په خوړلوکي شامل وي).اودرسول الله ﷺ ارشاد دي چي ډير بدخلګ هغه دي چي يوازي ډوډی خوري،خپلي مينځي وهي،خپله مهرباني بندوي،اونکاح کوي دلاس سره (مټ وهي).درسول الله ﷺ ارشاددي چي په ډيري (جمع واري سره)خوراک کولوکي شفاده.په بستان کي ليکلي دي درسول الله ﷺ ارشاد

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي چي خوراک سړوي اوبيايې خوري ځکه په ګرم خوراک کي برکت نه وي.فايده:په بعضي کتابوکي داهم ليکلي دي چي په ګرم خوراک خوړلوسره معده ضعيفه اوکمزورې کيږي.

## دخوراک هضم کولوعلاج:

په ابوداودکي دام معبد ښځه روايت دی چي رسول الله□فرمايلي دي چي سرکه بهتره کتغ دي اي الله□په سرکه کي برکت واچوي .فايده:په جامع کبير کي ليکلي دي چي پهسرکه کي داحکمت دي چي خوراک هضم کوي .ابن حبان دعطاښځه اودحضرت ابن عباسرضی الله عنه ښځه روايت کړي دی چي رسول الله□ته خوښ په ټوله سبزيواوکتغوکي سرکه وه.اود حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه ښځه روايت دی چي سرکه بهتره کتغ دی.اودرسول الله□ترکاري (سبزي)هم ډيره خوښه وه.په کنزالعباد کي ليکلي دي چي پرکوم سترخوان ترکاري(سبزي)وي نوهلته فرشتې راځي.

## دزړه دطاقت علاج:

علاج:مسروق وائي چي زه يوځل دحضرت عائشې رضی الله تعالي عنها خواته حاضر سوم ومي ليدل چي دهغې سره نزدې يوړوندسړی ناست دی اوحضرت عائشې رضی الله تعالي عنهادترنج (ترنج لوئي ليمبو ته وايی)يوه ټکړه دشاتو سره لګوله اوپههغه ړوندسړی ئي هوارول ماپوښتنه ځني وکړه اي ام المومنين داڅوک دي؟هغې راته وفرمايل چي داهغه څوک دي چي دده په وجه الله تعالي□خپل نبي ته په قهر سوي وو(دهغه نوم عبدالله ابن مکتوم رضی الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وو)ابونعيم داحديث په كتاب الطب كي رانقل كړي دی.فايده:ددې حديث متعلق شارح ليکلي دی چي ترنجبين دعسلو سره په نهاره خوړل زړه اودماغ ته ډيره فايده رسوي.

## دمچ دزهروڅخه شفاء:

علاج :په نسائي کي دحضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي که په خوراک کي مچ ولويږي نوهغه ته په دغه خوراک کي غوټه ورکئ ځکه ددوي په يوه وزر کي زهر اوپه بل وزر کي شفاء ده عادت يی دادی چي اول دزهرووزرورکښته کوي داحديث ابوداوددحضرت ابوهريره رضی الله تعالي عنه څخه هم نقلکړل سوي دی.فايده:ددې حديث څخه دامعلومه سوه چي مچ دزهرووزراول غوټه کوي نوغوټه ځکه ورکئ چي دوهم وزر چي شفاء پکښي ده هغه هم غوټه سي اواعتدال راسي زهر بې اثره پاته سي.

## په خوراک څښاک کي دزهروڅخه حفاظت:

علاج:په کنز العباد کي ليکلي دي چي کله څوک خوراک څښاک کوي نودادعادوائي ددې په برکت سره به دخوراک څښاک دمضرواثراتوڅخه محفوظ پاته کيږي دعاداده

بسم الله خير الاسماء بسم الله رب الارض والسماء بسم الله الذي لايضر مع اسمه شئ في الارض ولافي السماء وهوالسميع العليم(ترجمه)شروع کوم دداسی الله ﷻ په نامه چي دټولونوموڅخه لوړدی اوپه داسي نوم سره چي دمځکي

(c) ketabton.com: The Digital Library


اواسمان مالک دی اوپه داسی نوم سره چي دچاپه برکت سره په اسمان اومځکه کي هيڅ شی نقصان نه سي رسولاي اوهغه اوريدونکي اوعليم دی.

## ددې دعايوپه زړه پوري قصه:

قصه:روايت دی چي دابومسلم خولانی يوه مينځه وه چي خپل مالکته ئي ځوځله زهرورکړي وه ليکن په ده ئي هيڅ اثر نه وه کړي ډير وخت تير سونومينځي حال ورته ووايه چي ماتاته ځوځله زهر درکړه ليکن په تائي هيڅ اثر ونه کي داځه وجه وه مالک پوښتنه ځني وکړه چي تا زهر ولي ماته راکول؟هغې ورته وويل چي ته سپين ژيری سوي يي اوماته ستا يوازي هډوکي ښه نه ښکاري.مالک ورته وويل چي زه هميشه داپاک کلمات په هر خوراک څښاک باندي وايم بياخوراک څښاک ځنيکوم ددغه دعاپه برکت زه دهر رقم زهروڅخه محفوظ يم.بيائي مينځه اذاده کړه.

## دهاضمې علاج:

علاج:په ترميذي اوابوداودکي دحضرت عائشې رضی الله عنهاڅخه روايت دی چي رسول الله□فرمايلی دي چي غوښه دخوراک په وخت کي په چاقواوچاړه مه پرې کوي.ځکه دادعجميانوطريقه ده بلکي غوښه په غاښوپرې کوی اوخورئ يي.ځکه په مذکوره طريقه سره دبدهضمي څخه ساتل کيږ.واوپه غاښونوسره ميده سوي خوراک ښه هضم کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دغابښ دتکلیف علاج:

علاج:ابونعیم په کتاب الطب کي لیکلي دي چي عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ویلي دي چي دغاښوپه نه خلالولوسره غاښونه کمزوریکیږي.اوپه بعضي روایاتوکي داهم راغلي دي چي رسول الله□فرمایلی دي چي دغاښوپه نه خلالولوسره فرشتي جلاکیږیاودوې ته تکلیف جوړیږي.بل علاج په کتاب الطب کي دقبیصه بن ذویب څخه روایت دیچي رسول الله□فرمایلی دي چي په آس (حب الاس یوقسم لرګي دی)اوخوشبویه لرګي سره دغاښوخلال مه کوي.ځکه ز ه دابنه نه ګڼم چي تاسوته جذام مرض راسي.فایده :عالمانولیکلي دي چي په لاندي ذکر سوي لرګیوسره غاښونه خلالول مضر اوخطر ناک دي
انار ،بانس،نلان،اوهغه لرګی چي درخته یی میوه کوي لکه امرت،سیب،انځر،اونور.په سروزرو،چاندي،اوتانبه پیتل اونوروسره هم دغاښوخلالول مناسب نه دي ځکه خله بدبویی ځني پیداکوي.دغاښونودخلال دپاره ترتولوبهتر اوښه تریخ لرګی دی.

## په خوراک څښاک کي بې برکتی:

علاج:دحضرت عائشي رضی الله عنهاڅخه روایت دی چي رسول الله□فرمایلی دي چي دډوډي په پوه کولوسره برکت پورته کیږي داروایت په کنزالعباد کي رانقل سویدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دلږخوراک فايدې:

علاج:په کتاب الطب کي ابونعيم ليکلي دي چي رسول الله□ فرمايلی دي چي الله□تر نس غټ بل لوښي نه دی پيداکړي انسان بايدهغه درې حصې کي يوه حصه دخوراک دپار ه دوهمه دابودپاره اودريمه دساه اخستلودپاره پريږدي.فايده:ددېحديث شريف څخه دامعلومه سوه چي که دچاخوراک درې پاوه وي نوهغه لره پکارده چي يوپاوخوراک وکړي.ددې لپاره چي صحت يی روغ جوړوي دکم خوراک ډيري فايدې دي.چي يوڅويی دلته ذکر کوم صحت يی جوړوي،حافظه اوعقل يی تيز وي،درضرورت زيات خوب نه ورځي،ساه په اساني سره اخلي،په لمانځه کي سسياوخوبغلبه نه باندی کوي.

## دډير خوراک تاوانونه:

علاج:د ډيرخوراک څخه ډيريناجوړي پيداکيږي مثلاً بدهضمي،هيضه ځکه خودرسول الله□دتيغونوڅخه ډير نفرت کوي.اوفرمايل به يی چي دمره ډير خوراک ولي کوئ.دوهم تاوان دډيرخوراک دادي چي په عبادت کي يی خوند نه وي.اواولادیی نااهله پيداکيږي اوناااهله دالله□دطرفه اودحکمت دخبروڅخه محروم وي.مطالعې ته شوق نه وي په داسي نااهله کسانوکي مهرباني نه وي اوټول خلګ دځان په رقم لوي نسي ګڼي.نيکان خلګ دلمانځه دپاره مسجدته ځي اودی قضايی حاجت دپاره صحراګښت ته روان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دخاوري خوړلوتاوانونه:

علاج:په كتاب الطب كي ابونعيم ليكلي دي چي دحضرت ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله□فرمايلي دي چي كوم څوک خاوري خورئ ګوياهغه سړي ځان وژنه كوي.په جامع كبير كي دحضرت عائشې رضى الله عنها څخه روايت دي چي رسول الله□فرمايلى دي چي اى عائشې تاسوخاوره هيڅكله مه خورئ ځكه چي دادرې تاوانونه لري اول هميشه ناجوړي دوهم نس هميشه خراب وي دريم دانسان رنګ هميشه ژړوي.

## دغوښي خوړلوفايدې:

علاج:په كتاب الطب كي ابونعيم ليكلي دي چي دحضرت ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله□فرمايلي دي چي غوښه دټولوكتغونو(اشپزيو)سرداره اومشره ده په دنيااوآخرتكي په كتاب الطب كي ابونعيم ليكلي دي چي حضرت علي رضى الله عنه فرمايلي دي چي اي خلګوغوښه خوښه كړي اوغوښه بنه خورئ ځكه چي دغوښي په خوراک سره حلق سميږي رنګ صاف معلوميږي خيټه كوچني كيږي.حضرت علي رضى الله عنهفرمايلي دي چي څوک درڅلوېښتوورځوپوري غوښه ونه خورئ حلق يې لوى كيږي.په كتاب الطب كي ابونعيم ليكلي دي چي دحضرت ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله□فرمايليدي چي دغوښيخوړلوپهوخت كي زړه ته آرام رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دبدن دکمزوري علاج:

علاج:ابونعيم ليکلي دي يووخت رسول الله□والله□ته دبدن دکمزوري شکايت وکړ په جواب کي ورته وويل سوه چي په شيدوکي غوښه پخوه اوخوره يې.

## دانځر فايدې:

علاج:په جامع کبير کي ليکلي دي چي رسول الله□فرمايلي دي چي دانځرپه خوړلوسره سړى دقولج دناجوړي څخه محفوظ کيږي.فايده:علماوو ليکلي دي چي دانځر وډير فايدي دي مثلاًً لطيف اوژرهضم کونکي دي.په طبيعت کي نرمي پيداکوي.دبدن څخه سودادخولې دلارې باسي.په بعضې احاديثوکي راغلي دي چي انځر خورئ ځکه انځر دبواسيرودپاره مفيددى.اوپه دردلقرس کي ډير فايده مند دي.امام علي رضافرمائلي دي چي دانځروخوراک دخلې بدبوئي ليري کوي.دسر وريښتان اوږده وي.دقولنج ناجوړي دپاره فايده مند دي.

## دزيتون اودزيتون دغوړوفايدې:

علاج:ابونعيم په کتاب الطب کي ليکلي دي چي رسول الله□وفرمائل اي علي رضى الله عنه زيتون خوره.اوپه غوړويي بدن غوړوه ځکه چي کوم سړي چي دزيتون په غوړوځان غوړکي در څلويښتوورځوپوري شيطان نه ورته راځي.فايده:علماوو ليکلي دي چي په زيتون کي الله□رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


رنګ خاصیتونه اوفایدې ایښي دي که دزیتون اچار په سرکه کي واچول سي اواوخوړل سي نومعده قویکوي اشتهازیاته وي.دانسان بدن قوي کوي.قوت باه زیاته وي که دزیتون مغز په اوړواووازګه کي ګډکړه سي اودبرګي په ځاي ومژل سي نوانشاءالله برګي به لیري سي.که ښځه دزیتون شیره په بدن کي کیږدي نوسیلان به ئي بندسي.دقولنج ناجوړي دپاره هم فایده منددی.که څوک دزیتون په غوړوسرغوړوي نوغاښونه به ئي ټینګ اومضبوطه وي.دلړم دنیش وهلوپر ځاي باندی په مښلوسره دستي یخوالي راځي (دردښه کیږي).دزیتون غوړي وریښتان توره وي قبض لیري کوي.دزیتون په غوړوسرغوړول دسر درد ختموي.

## تر ډیره وخته پوري دځوان پاته کیدوعلاج:

علاج:ابونعیم دحضرت انس رضی الله عنه څخه روایت نقل کړي دي چي رسول الله□فرمایلي دي چي اي خلګودشپې خوراک ضروري کوي ځکه دشپې دخوراک په پریښودلوسره ډیر ژرسړی زړیږي.فایده:مطلب داچي دشپې خوراک دهمیش دپاره پریښودل مضر دي.دشپې دومره خوراک بایدوسي چي هضم کړه سي.

## دخرمافایدې:

علاج:ابونعیم دحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه روایت کړي دي چي رسول الله□فرمایلي دي چي په خرماکي ترټولوبهتره خرمابرني خرماده.ځکه چي دادنس څخه ناجوړي راباسي.اوپه دې کي هیڅ ناجوړي نسته.فایده:دبرني خرماډیر رقمونه دي یوئي دادي چي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوچني وي مندکي ئي هم کوچني وي اوداديوه طرفه غټه اودبل طرفه نرى وي.

## دجادواوزهروعلاج:

علاج:ابن حبان او ابونعيم دابن عباس رضى الله عنه څخه روايت کړي دي چي درسول الله□عجوه خرماديره خوښه وه.دده ارشاددي چي عجوه خرمادجنت څخه ده.فرمايلي ئي دي چي په خرماکي دزهروڅخه شفاءده.حديث شريف دي چي څوک هر سهار اووه خرماوي خوري هغه به په دغه ورځ کي دزهرواوجادوڅخه محفوظ وي.په بعضي احاديثوکي راغلي دي چي عجوه دجنت څخه ده.اوپه دې کي دناجوړيوڅخه شفاء ده.

## ددماغ دطاقت پيداکولودپاره علاج:

علاج:ابونعيم دواثله بن الاسقع څخه روايت کړي دى چي رسول الله□فرمائلي دي چي اي خلګوکدوزيات خوري ځکه چي کدودماغ ته طاقت ورکوي.عائشي رضى الله عنهافرمائيلي دي چي درسول الله□ارشاددي چي اي عائشې کله چي ته کتغ کوي نوکدوديګ ته وراچوه.ځکه چي داوه پريشانه زړ ه ته طاقت ورکوي.فايده:رازپه دې کي دادي چي دغوښې حرارت ليري کوي اواعتدال پيداکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دزړه اودماغ دکمزوري علاج:

علاج:ابونعیم دحضرت ابن عباس څخه روایت کړي دی چي درسول الله□درټولوخوښ خوراک ثرید وو.فایده:ډوډې په ښورواکي میده کولوته ثرید وائي.علماوولیکلي دي چي داخوراک دماغ اوزړه ته طاقت ورکوي.ژرهضم کیږي.یوسیر خرماچي لنده سي اوسربیره لړکوچي وروباندي واچول سي دیته هم ثریدوائي.دحضرت ابن عباس رضی الله تعالي عنه څخه روایت کړل سوي دی چي درسول الله□ثرید ډیر خوښ وو.

# دمعدې دبخار علاج:

علاج:ابونعیم دعبدالله بن جعفرڅخه روایت کړي دی چي مارسول الله□ولیدي چي ختکی ئي دخرماسره خوړئي فایده:علماوولیکلي دي چي ددې په خوړلوسره دمعدې خیري لیري کیږي.ژرهضم کیږي.دختکي یخوالي اودخرماګرم والي چي سره یوځاي سي نواعتدال پیداکړي.خرمامردانه طاقت زیاتوي.په بدن کي وینه زیاته وي.پښتورګي صفاکوي.دبلغم اویخ څخه پیداکیدونکي ناجوړیودپاره دخرماخوراک ډیر مفیدي.که خرمادخوارہ شي سره په اندازه وخوړل سي دمثاني دډبرودپاره فایده رسوي.بادرنګ دبولودبندیدودپاره ډیرمفید شي دي.دده په خوراک سره بولي ډیریږي.په طبیعت کي نرمي راځي.صفراوي مزاجه کسانودپاره دده خوراک ډیرمفید دي.ختکي وینه اوصفراءدحرارت خواته بیائي.دارړی بددپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډيرمفيددي.تنده ختموي.دبولوبنديدودمثاني دډبرودپاره هم ډير مفيددي.دپريشاني اوخارش دپاره هم فايده رسوي.

## ددماغودخشکی اودخارش علاج:

علاج:ابوحاطم دحضرت عائشې رضی الله عنهاڅخه روايت کړي دی چي رسول الله□به بادرنګ دخرماسره يوځاي خوړئ فرمائيل به ئي دخرماګرم والي دبارنګ خنکوالي اعتدال پيداکوي.فايده:ددې حديث شر يف څخه معلومه سوه چي بادرنګ خنګ اوتردي.نوځکه دصفراوي اوسوداوي مزاج کسانوته ډير فايده منددي.په دماغوکي رطوبت پيداکوي.بندي بولي خلاصوي.دمثانې ډبريليري کوي.

## دقوت باه ډير والي:

علاج:ابونعيم په کتاب الطب کي ليکلي دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي زماخرمادکوچوسره ډيره خوښه ده.فايده:علماوليکلي دي چي ددې خوراک قوت باه ډيروي.بدن غټوي.کوچې اوعسل چي سره ګډسي اووخړل سي دذات الجنب (دبغل  درد)دپاره ډيرمفيد دي.جسم بدن غټوي.

## دويني دصافولوعلاج:

علاج:صاحب شرعة الاسلام يوحديث رانقل کړي دي چي په هرانار کښي يوڅاڅکي دجنت دابوسته.فايده:په انارکي ډيرفايدې دي مثلاًوينه صافه وي.خرابه وينه باسي.مردانه قوت ډيروي.دزړه اشناووره کوي.املونه دروي.دردوډې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورسته خوراک ئي ژر هضميه راولي.په ځيګرکي طاقت پيداکوي.پريشاني ليري کوي.آواز صفاکوي.بدن غټوي.رنګ ښه کوي.ډيرخوراک ئي معده کمزورې کوي .تريخ آناردمعدېګرمي ورکوي.دوني جوش زياتوي.دماغ ته دمعدېبخارنه پريږدي.ګرمي ليري کوي.

## دنس درطوبت اوډير وناجوړيوعلاج:

علاج:ابونعيم دحضر ت بن مالک څخه روايت کړي دی چي رسول الله□به بادرنګ دمالګي سره يوځاي خوړی.فايده:حکيمانوليکلي دي چي په بادرنګ کي رطوبت وي اومالګه رطوبت ختموي ددې څخه علاوه دمالګي نوري هم ډيري فايدې دي.مالګه دبلغم اودصفراءمسهل دي.خوراک هضم کوي.رنګ ښه کوي.يخوالي معتدل کوي.دخوراک ورسته څکل ئي بدهضمي ليري کوي.دجذام ناجوړي دپاره هم مفيددي.

## دويني دصفاکيدوعلاج:

علاج:دمعاويه بن زيدرضی الله عنه څخه ابونعيم روايت کړي دي چي د رسول الله□په ميووکي انګور ډير خوښ وه.فايده:علماووليکلي دي چي په دې کي حکمت دادی چي انګور وينه صفاکوي.بدن غټوي.په پښتورګي باندي وازګه ډيره وي.سوداوي مادې له منځه وړي اوخارج کوي ئي.دسوځلي ځاي دپاره ډيرمفيددي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دقوت باه علاج:

علاج:ابونعیم دحضرت عبدالله بن جعفر رضی الله عنه څخه روایت کړي دي چي د رسول الله□ارشاددي چي دپسه غوښه تر ټولوغوښوبهتره ده.فایده:علماوولیکلي دي چي په دې کي حکمت دادی چي ددې غوښي په خوړلوسره مردانه قوت ډیرېږي.ژر هضم کیږي.په سینه کي طاقت پیداکوي.دملاددرددپاره فایده رسوي.

## په پوڅکۍ باندي دسترګودناجوړیوعلاج:

علاج:په جامع کبیرکي دحضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دي چي درسول الله□ارشاددي چي په پوڅکۍکیدسترګودناجوړیودپاره شفاءسته.ابونعیم دحضرت آنس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت کړي دي چي درسول الله□ارشاددي چي کله جنت وخندل نوپوڅکۍځني پیداسوه اوکله چي مځکي وخندل نوخزانه ځني پیداسول.پوڅکۍیوسپین قسم نباتات دی چي په پسرلي کي راشین کیږي اوپه کنځلوکي خوړل کیږي.فایده:علماوولیکلي دي چي پوڅکۍدرې قسمه دی.اول مویزي چي توررنګ لري په دې کي زهر وي.دابایدونه خوړل سی.دویم قسم سپین وي خودسوروالي وخواته مائل وي ددې استعمال هم ښه دي.ددې اوبه دسترګودپاره ډیري مفیدي دي.که دچاپه سترګوکي سپین والي وي نوددې په اوبوپه یوڅوورځي استعمالولوسره به ناجوړي ورکه سي.ددې په استعمال سره دسترګونظرتیزیږي.بعضېعلماوولیکلي دي چي که دګرمي دسببه سترګي خوږسوي وي نویوازي دادواکافي نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


بايددنورودواووسره يوځاي سي نوډيره فايده به وکړي.دبعضې حاکمانورايه داده چيکه ديخ دسببه سترګي خوږسوي وي نوددې په اوبوسره دي رانجه لانده کي څلويښت ورځې ورسته دي ميده کي اواستعمال دې کي.ديلمي ويلي دي چي ماددې تجربه داسي کړي ده چي ديوې منځې سترګي خوږسوي وي ټول طبيبان ئې دعلاج څخه ناميده سوي وه نومادرسول الله□دحديث مطابق څوورځې دهغې په سترګوکي ديوښکې اوبه ورواچولې دخداي په فضل ددې سترګي جوړي سوي.ابونعيم ويلي دي چي ټوله طبيبان په دې متفق دي چي پوښکې سترګي سوځوي مګر دهغه سترګودپاره چي دګرمي يايخ دکبله خوږيږي.

## ديوښکې نورخاصيتونه:

پوښکېچي وچه کړل سي اوميده کړه سي نودآمل دپاره مجربه دواده.که دسرکې سره ګډکړه سي اوپرنوُباندي وتړل سي نُوځاى ته راولي.ډيرخوړل يي اولادبندوي.سختي مادې په بدن کي پيداکوي اوددې ډيروالي په بدن کي غوټې (سُدې)پيداکوي.دډير استعمال څخه ئې قولنج،دمعدې درد،اوفلج رنګه خطرناکي ناجوړي پيداکيږي.

## دسترګودخوږوالي اودردعلاج:

علاج:ابن سيناپه خپل کتاب حاکم په مستدرک اوصاحب حصن حصين ليکلي دي چي که دچاسترګه خوږسي نودادعادي وائي انشاءالله صحت به پيداکي.دعاداده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


الهم متعني ببصري واجعله الوارث مني وارني في العدوثاري وانصرني علي من ظلمني.ای الله□زماسترګوته فایده ورکړه اورنائي قائمه وساته اودوي زماوارثاني وګرځوه اوددښمن مقابله زمابدله راکړئ دظالم خلاف زماکومک وکې.

## دسترګوڅخه دغبار ليري کولواونظرتيزيدودپاره

## علاج:

علاج:علماوولیکلي دي چي دچاپه سترګوکي ګرځ غباروي هغه ته پکارده چي دهر لمانځه څخه ورسته دې دااياتِ شريف وائي اوپه سترګودې دم کوي آيات شريف دادي.

فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيد(ترجمه)بس ليري کړه موږستاڅخه پرده پس دنن څخه به ستادسترګونظرتيز وي.

## دکمزورئ اومردانه قوت دحرکت دپاره:

علاج:په ترمذي وغيره کي دام منذرڅخه روايت دي چي يوه ورځ رسول الله□دحضرت علي رضی الله عنه سره زماخواته تشريف راوړي په دغه وخت کي دخرماوږي ځړيدلي رسول الله□ددې خرماووڅخه يوڅوداني وخوړلي اووئي فرمائل اي علي رضی الله عنه ته کمزوري ئی دامه خوره.ام منذرويلي دي چي ددې ورسته ماجغندروخوړي نورسول الله□وعلي رضی الله عنه ته وفرمائل چي ددې څخه خوراک وکه څکه داستادپاره مفيددي.فايده:علماوولیکلي دي چي په دغه ورځوکي دعلي رضی الله عنه سترګي

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوړوي دچاچي سترګي خوړوي نودهغه دپاره دخرماخوړل تاواني دي.ځکه رسول الله□حضرت علي رضی الله عنه د خرمادخوراک څخه منع کړي.اوکله چي دده حضورته جغندرپيش کړه سوه نورسول الله□ورته وفرمائل چي ته دغه خوره ستادپاره دامفيددي اوستاکمزوري ليري کوي.ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي دجغندرپه خوړلوسره دبدن کمزوري ليري کيږي ځکه خوعلماوولیکلي دي چي جغندردمعدې سوزش ختم کوي.ګرمي ليري کوي.په بدن کي غوتي خلاصوي.بلغم راباسي.رعشه (ګوزڼ)ناجوړي دپاره هم ښه دي.کمزوري ليري کوي.په قوت باه کي حرکت پيداکوي.

## دخوږ سترګو علاج:

علاج:په جامع الکبيرکي دحضرت ام سلمة رضی الله عنها څخه روايت دي چي کله به دکومي بي بي سترګي خوږ سوې نورسول الله □به ورسره نزديکت (جماع)نه کول ترڅوچي به هغه جوړه سوي نه واي.فايده:ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي دسترګودناروغي په وخت کي نزديکت کول ناروغي زياتوي.

## دنظر دتيزيدو علاج:

علاج:په جامع الکبير کي دحضرت عائشي رضی الله عنها څخه روايت دي چي درسول الله□په رنګونوکي شين رنګ ډير خوښ وو.په يوه حديث شريف کي راغلي دي چي شين رنګ اوروانواوبوته کتل دسترګونظرتيزوي.فايده:په بعضې کتابوکي ليکلي دي چي که په ګرمي کي څوک دشين رنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library


عینکي استعمال کي نونظر یی تیزیږي.خوپه یخ کي بیاتاواني دي.

## دعام جسمانی طاقت اوقوت باه علاج:

علاج:په بعضې روایاتوکي دحضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دي چي درسول الله□حیس ډیرخوښ وو.فایده:حیس ددروشیانودیوځاي کیدوڅخه جوړیږي خرما،کوچي،اومستې.ددې په خوړلوسره بدن مضبوطه کیږي.اوپه قوت باه کي زیاتوالي راځي.

## په سبزی جاتوسره دناروغي علاج:

علاج:په جامع کبیرکي دحضرت ابوامامه رضی الله عنه څخه روایت دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي خپل سترخوان په سبزي جاتوسره ښائسته کړئ.ځکه سبزي جات دالله□دنوم په برکت سره شیطان لیري کوي.فایده:علماوولیکي دي چي شنه شیان لکه اوږه،پیاز،مولئ،اوګندنابدبوي لرونکي مرادنه دي .ځکه داشیان درسول الله□خوښ نه وو.بلکه مرادځني ناناه،ترتیزک اونوردي.ځکه ناناخوراک هضم کوي.خوشحاله ونکې ده.تیغونه راولي.دمعدې څخه بادونه باسي.معده قوي کوي.تینګه وینه نرموي.دنس چنجی وژني.قوت باه زیاتوي.په ترتیزک اوساګ سره بولي ښه جاري کیږي.دتې ورکونکي دپاره شیدې پیداکوي .دمثانېډبري باسي.مني پیداکوي.په قوت باه کي حرکت پیداکوي په نهاره خوراک ئی دتخرګودبوي دپاره مفید دي.تخم چي یی دهګیډژړوسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګېډسي اووخوړل سي دمردانه طاقت دپاره ډېره مجربه دواده.دسپينو او توروداغودپاره ئي مبنل ډېرفايده رسوي.

## په شيدوسره جسماني طاقت پيداکول:

علاج:ابونعيم دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت کړي دي چي دخبنلوپه شيانوکي رسول الله□ته شيدې ډېري قدرمني وې.علماوولیکلي دي چي په شيدوکي لاندي خصوصيات سته.قوت باه پيداکوي.دبدن خشکي ليري کوي.مني پيداکوي.په مخ کي سرخي پيداکوي.فضلات دبدن څخه ليری کوي.دماغ ته طاقت ورکوي.په طبيعت کي نرمي پيداکوي.په دماغ کي تيزي پيداکوي که دچهازمغز سره يوځاي سي بدن ته قوت ورکوي.ډېراستعمال ئي په سترګوکي ګردغبارپيداکوي.هميشه خوراک ئي په معده کي بادونه پيداکوي.دبندونودردجلاکوي.

## دعسلو خاصيتونه اودهر ي ناروغي څخه شفاء:

علاج:ابونعيم دحضرت عائشي رضي الله عنهاڅخه روايت کړي دي چي درسول الله□عسل ډېر خوښ وو.فايده:درسول الله□عسل ځکه ډېرخوښ وو چيالله□فرمائلي دي چي په دې کي شفاءده.اوحکمانودعسلوبې شماره فايدې بيان کړي دي.مثلاً سهار په نهاره سره خوراک ئي بلغم ليري کوي.معده صفاکوي.فضلات ليري کوي.دبدن غوتي خلاصوي.معده په اعتدال راولي.دماغ ته طاقت ورکوي.دشاشه بندی دپاره مفيددي.لوږه ډېره وي.دمثانې دردددپاره فايده رسوي.قوت باه زياتوي.دعسلونوري هم ډېري درحدوتلي فايدې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دنس ددرداودهاضمې علاج:

علاج:ابونعيم په كتاب الطب كي دحضرت ابوهريرهرضي الله عنه څخه روايت كړي دي چي مادنس ددردڅخه په مسجدكي څنګ وهلی وو چي رسول الله□تشريف راوړی پوښتنه ئې راڅخه وكړه چي ته ناجوړی يې؟ماورته وويل هوياړسول الله□نورسول الله□راته وفرمائل چي ولاړسه لمونځ وكړه ځكه چي په لمانځه كي شفاءده.په بعضې احاديثوكي دحضرت عائشې رضي الله عنهاڅخهروايت دي چي دالله□په ذكر (لمونځ )كولوسره خوراک هضم كيږي اودخوراک كولوڅخه ورسته دستي مه بيديږئ.په دستي خوب كولوسره زړه زنګ پيداكوي.ددې حديث څخه معلومه سوه چي دالله□ذكر(لمونځ)ددين اودنيادواړودپاره فايده منددي.

## دكنځلو(تل)خاصيتونه اودناجوړيو علاج:

علاج:ابونعيم دحضرت انس رضي الله عنه څخه روايت كړي دي چي حضرت سعدبن معاذرضي الله عنه درسول الله□حضورته كنځلي اوخرماوړاندي كړهنورسول الله□يوڅه وخوړل ورسته ئې ددوې دپاره دعاوكړه.فايده:علماووليكلي دي چي په دې كي حكمت دادي چي دخرماسره سوداوي مواد په بدن كي پيداكيږي اوكنځلي دامادې دمنځه وړي اوخرماغوټي پيداكوي اوكنځلي ئې دمنځه وړي په دې وجه رسول الله□سره يوځاي كړې اووئې خوړلي ددې دپاره چي غذامعتدله سي.دكنځلونورخصوصيات دادي چي دحلق څخه خشونت ليري كوي.اوازصافه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي.رګونه نرموي.چرک لیري کوي.په پښتورګوباندي
وازګه پیداکوي.دکنځلوشیره دمصریوسره یوځاي کول
اوخوړل دمعدې ګرمي لیري کوي.

## په اوبوسره دتبي علاج:

علاج:صاحب سفر السعادةلیکلي دي چي تبه ددوزخ دتوبش
څخه ده ځکه نوتاسودتبي ناروغ په اوبوسره یخوئ.په یوه بل
حدیث کي راغلي دي چي دچاتبي کیږي نودري ورځي سهار
وختي د ي ولمبیږي.امام احمد بن حنبل په خپل مستدرک کي
روایت کړي دي چي کله به درسول الله□تبه سوه
نوداوبولوښي به ئي راوغوښتی اوپه جسم مبارک باندي به
ئي اوبه پاشلې.امام ترمذي حدیث رانقل کړي دي چي تبه
داوریوه ټکره ده نوددې کبله داپه یخواوبوسره مړه کوئ.ښه
اوغوره طریقه داده چي په واله کي دبهیدلوخواته
دلمرراختلوخخه درمخه کښینئ اوداد‌عاووائي بسم الله اللهم
اشف عبدک وصدق رسولک (ترجمه)شروع کوم په نامه
دالله□سره چي یاالله□خپل بنده ته شفاءورکړې اوخپل رسول
رښتني کړې .اوددرددروځوپوري دي داعمل وکړي هره
ورځ دي درې درې غوټې ووهئ.که ناجوړي ښه سوه خوښه
ده که نه پنځه،اووه،یانهه ورځي دي داعمل وکړي.انشاء الله
دنهه ورځوپوره کیدومخکي به ناجوړي جوړه
سي.فایده:بعضې عالمانولیکلي دي چي داعلاج دهغه چاډپاره
خاص دي چي دلمردحرارت یادګرم شي دخوړلویادستړیاله
کبله تبه ورپیښه سوي وي.که تبه دبلغمودکبله وی بیائي
علاج هیڅ کله دانه دي لکه څرنګه چي شکمن سړی ته قران
کریم فایده نه سي رسولئ.ځوک چي داعقیده ولري چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دادرسول الله□حديث دي اودهغه په برکت سره الله□شفاء ورکوي نوهغه ته به ضرورشفاء ورکړل سي انشاءالله.

## دامل بندول او عسل:

علاج:بخاري اومسلم حديث شريف رانقل کړي دي چي يوسړی رسول الله□ته راغلي چي زمادوروراملونه کيږي رسول الله□ورته وفرمائل چي ولاړسه اوهغه ته عسل ورکه هغه سړی بياراغي اوعرض ئي وکړي چي يارسول الله□په دي علاج سره ئي املونه نورهم ډير سوهرسول الله□ورته وفرمائل چي ولاړسه اوبياپه هغه  عسل وخوره دغه رنګه دغه سړي دوه درې واره راغي ورسته رسول الله□ورته وفرمائل چي الله□رښتونی دي اوستادوروړنس درواغجندي په بعضې رواياتوکي راغلي دي چي داسړی ولاړي اودوهم وار ئي عسل ورکړه نودده ورور جوړسو.فايده:رسول الله□چي وفرمائل چي الله□رښتوني دي اوستادوروړخيټه درواغجنه ده نوددي مطلب دادي چي رسول الله□ته دوحي په ذريعه معلومه سوه چي ددغه سړي په نس کي يوخرابه ماده جمع سوی وه نودهغه خارجول داملوپه ذريعه ضروري وو.اوعسل امل ورکونکي دي ځکه رسول الله□په دې طريقه سره د هغه کس علاج وکړي.

## دجوز اوپنير خاصيتونه:

علاج:په تنزيه الشريعت کي دحضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


جوزهم بيماري ده اوپنيرهم ليكن چي كله دادواړه شيان دنس څخه ووزي نونس جوړسي.فايده:په دې حديث شريف كي كه څه هم بعضې عالمانوخبري كړي دي خوارشاد دطب مطابق دي.ځكه چي پنير په دويمه درجه كي تر اوخنک دي اوجوز په دوهمه درجه كي ګرم اووچ دي چي دادواړه سره يوځاي سي نواعتدال پيداكوي اودواړه يودبل مصلح هم دي.

## دشونډخوصيات اودناجوړيوعلاج:

علاج:ابونعيم دحضرت ابوسعيدرضی الله عنه څخه روايت دي چي دروم باشاه ورسول الله□ته دشونډومرّبه دتحفې په شكل په يوه لوښي كي راوليږل نو رسول الله□دهغې څخه يوڅه وخوړل.فايده ددې حديث څخه دامعلومه سوه چي دبدن دصحت اوقوت دپاره معجونات اوكشتې استعمالول په شريعت مطره كي منع نه دي.دشونډمرّبه لوړه راولي.خواړه هضم كوي.خواګرځی وركوي.دبدن سستي ليري كوي.بادوته حركت وركوي.حافظه زياتوي.غليظې مادي دبدن څخه باسي.

## ترډيره وخته بدن جوړساتل:

علاج:ابوالليث خپل بستان كي ليكلي دي چي حضرت علي رضی الله عنه فرمائلي دي چي كم سړي داتمنالري چي دده بدن دي درډيره وخته پوري جوړروغ وي نوده لره پكارده

(c) ketabton.com: The Digital Library


چي دسهار اومابنام ډوډې خوري اوډپورڅخه خلاص وي اولڅې پښې دي نه ګرځې اودښځې سره دي جماع لږکوي.

## داستسقاء (وبا)علاج اودرې قسمونه:

علاج:په صحيح البخاري کي راغلي دي چي ددې ناجوړې دپاره رسول الله□څه کسانوته داوښ بولي اوداوښ شيدي يوځاي ورکړي دي چي په دې علاج سره هغه جوړ سوه داواقعه دلته داوږدوالي دکبله نه رانقل کووکه ئي څوک کتل غواړي نوپه بخاري شريف کي دې وګورئ.فايده:شيخ الرئيس په قانون کي ليکلي دي چي داوښي شيدي اوداوښ بولي چي يوځاي کړه سي نودوبامرض دپاره ډيرمفيددي دوبامرض درې ډوله دي يوبرقی،دويم لمحی،اودريم طبلي برقی هغه ته وائي چي داوبودڑِي په رقم اوازکوي.اولمحي هغه دي چي په بدن باندي نوراځي.اوطبلي هغه دي چي په خيټه کي ددريی په رقم اوازوي.

## داوښي په شيدواوبولوسره دلمحي علاج:

حقير په بعضي کتابوکي ليدلي دي چيکوم خلګوچي دااستعمال کړي وه يعني چاته چي رسول الله□داعلاج ښولي وودهغوي ناجوړې لمحي وه.

## دزخم وينه بندول:

علاج:په سفر السعادةکي ليکلي دي چي په جنګ احدکي چي رسول الله□دآس څخه راولويدي په سرئي جنګي خولی‌وه دهغې کړه درسول الله□په مخ مبارک ننوتلي وه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوصحابي په خپلوغابنوسره نيولي وه اوراوه ئی کبنل چي درسول الله□غابنونه مبارکان هم شهيدان سوي وه ورسته درسول الله□وينه نه بنديدله حضرت فاطمې رضی الله عنهابه پريمنځل اوحضرت علي رضی الله عنه به اوبه وراچولې ورسته فاطمې رضی الله عنهادفرمان مطابق دبوري يوه ټوټه وسوځل اودغه زخم ئي ډک کړي وينه دستي ودريدل.

## دسردرداودخرابي ويني علاج:

علاج:په بخاري اومسلم کي ددې حديث مضمون دي چي رسول الله□په خپلودواړواوړوباندي وينه کښلي ده په بعضي رواياتوکی راغلي دي چي په سرکي ئي وينه کښلې ده.په بعضې رواياتوکي دنيم سردردذکردي.په بعضې رواياتوکي راغلي دي چي وينه کښل دردواکولوبهتردي.رسول الله□فرمائلي دي چي په شپه دمعراج ديوې فرشتې سره تيريدم هغي راته وويل ای محمده□خپل امت ته دويني کښلوامر وکه.فايده:شيخ عبدالحق محدث ليکلي دي چيمقصد ددغه ځاي څخه وينه ايستل دي که درګ په ذريعه وي که دچيښې ښکرلګولوپه ذريعه وي.ټول طبيبان په دې قائل دي چي دررګ چيښه (ښکر)لګول بهتره دي.داخبره معلومه سوه چي دوينوپه ناجوړيوکي وينه ايستل مفيددي.دنيم سر درددپاره هم ډير فايده رسوي.دنيم سردردته شقيقه اودټول سردردته داءالبيضه ويل کيږي.دجالينوس دقول مطابق دځلوينتوکالوپوري چي دکوم سرې دوينيکښلوعادت نه وي ددې ورسته دي وينه نه کاږئ.په شرعة الاسلام کي راغلي دي چي وينه کښل سنت دي.وينه کښل دهر مرضدپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


مفيددي.په نهاره وينه كښلوكي شفاء ده.په ډک نس وينه كښل صحت ته تاوان رسوي.په بستان كي ليكلي دي چي په ډير يخ كي وينه كښل ښه نه دي.په شرعة الاسلام كي ليكلي دي چي په سر كي وينه كښل دلاندي اووناجوړيودواده جنون،جذام،برص،دغاښودرد،دستركوغبار.

## دعرق النساءددرددپاره علاج:

علاج:صاحب سفر السعادةدحضرت انس بن مالک رضی الله عنه څخه روايت كړي دي چي درسول الله□حديث شريف دي چي دعرق النساء علاج په عربي سيرلي سره كوئ طريقه ئي داده چي سيرلی پوخ كړئ اوڅوحصې ئي كړئ بيائي يوه يوه حصه هره ورځ خورئ فايده:دسيرلي دكوناټودغوښي څخه ښوررواجوړه كړي درې ورځي په نهاره ئي وچيښئ انشاء الله دردبه ورک سي.عرق النساء ديوركک نوم دي چي دكوناټوڅخه تر بجلكي پوري تللي دي.اودردئي دومره شديددي چي ددردڅخه ماسوي هرڅه دانسان څخه هيره وي ځكه ورته عرق النساء وائي.

## دقبض علاج اودسناء خلاص:

علاج:په سفرالسعادة كي ليكلي دي چي رسول الله□داسماء بنت عميس رضی الله عنهاڅخه پوښتنه وكړه چي كله به تاسوته دامل ضرورت وونوتاسوبه څه شي استعمالوئ؟هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په جواب کي ورته وويل چي شبرم استعالوم رسول الله□ورته وويل چي هغه خوډيرګرم دي.اسماء رضی الله عنهاورته وويل چي سناء هم استعمالوم رسول الله□ورته وويل که دمرګ څه دواوائي نو هغه به سناء وای.فایده:په سرزمين حجازکي يوواښه دي دهغه نوم شبرم دي داواښه په څلورمه درجه ګرم دي ددغه دوااستعمال داملونودپاره مفيدنه دي په حديث شريف کي راغلي دي چي اي خلګوسناء خوښکړئ ځکه دادهري ناجوړی دواده ماسوادمرګ څخه.

## په کلونجي دعاموناجوړيو علاج:

علاج:په صحيح مسلم کي دحضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي کلونجي غير دمرګ څخه دهر مرض دواده.فایده:دجالينوس بيان دي چي کلونجي نفخ اوبادونه ليري کوي.اوددې په خوړلوسره دنس چنجان مړه کيږي.چي وه اشيږي اوخته سي بيايخ سی اووچيښل سي دزکام دپاره مفيددي.که دخشکی په وجه په بدن باندي دانې ګرمکيپالړميکی راوخيجي دکلونجي خوراک ډيره فايده ورته کوي.که په بدن باندي کوچني کوچني دانې راوخيجي دکلونجي په مښولوسره دبدن پوست صفاکيږي.که حيض بندوي جاري کوي ئي.په سر باندي مښولوسره دسردردختميږي.په دانوسرکوي چرک ئې راباسي. په سرکه کي خوراک ئي بلغمي نو(ورم)راباسي.دروغن ايرسياسره چي يوځاي کړه سي بيابوئی کړل سی دسر دردليري کوي.ددې خوراک دساه سوځولودپاره ډيره فايده کوي.اودابوپه غرغره کولوسره دغاښودردليري کيږي.په خوراک سره ئي بولي جاري کيږي.په کورکي لکه دسپلني

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوندي دودول ئي غوماشي اومنګوړورکوي دکلونجي نورهم ډير خصوصيات دي چي درشمارتيردي.کلونجي داردوزبان لفظ دي چي په پښتوکي ورته توره ونجه وائي.

## په کوچنيوناجوړيودلويوناجوړيوکفاره:

علاج:صاحب جامع کبيريوحديث رانقل کړی دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي دځلوروشيانودپاره ځلورشيان بې نفعي مه ګڼئ. ١دسترګوخوږيدل سړی دړندیدلوڅخه محفوظ کوي،٢ دزکام کيدلسړی دبرص دناجوړي څخه محفوظوي،٣ټوخی سړی دفلج ناجوړي څخه خلاصوي،۴دخرابودانولکه شين جکیړاپورته کيدل سړی دبرص دناجوړي څخه ساتي.فايده:مطلب ددې حديث شريف دادي چي کله کله داځلورناجوړي راځي نوتاسوئي بدمه ګڼئ ځکه چي ددوي په راتلوسره انسان دنوروغټوغټوناجوړيوڅخه په امن کيږي.

## جسماني ناروغي اوداوړي خاصيتونه:

علاج:امام جلالدين سيوطي رح په جمع الجواهر کي ددیلمي رح څخه يوروايت رانقل کړي دي ديلمي رح دحضرت علي رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله□فرمائلي دي چي ای خلګووړه خورئ اوپه دې سره علاج کوي ځکه چي په دې کي دناجوړيوڅخه شفاء سته.فايده:ددې حديث په صحت کي اګر که دعلماووډيري خبري دي مګرداطباووپه نظرپه اوړه کي ډيري فايدې دي دانولیري کوي.بندحيض خلاصوي.بندی بولي خلاصوي.غټي بولي هم خلاصوي که بندي وي دمعدې رطوبت وچوي.وينه نرمه وي.دمعدې څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بادباسي.آوازصفاکوي.دقولنج ددرداوبادودپاره مفیده ده.هیره
لیري کوي.دتوري دپاره هم مفیده ده.دملادبادي درددپاره هم
ډیره مفیده ده.مني زیاتوي.دګرم مزاجه خلګومني
وچوي.دمعدې اودبندوددرددپاره ډیره مفیده ده.دنس چنجیان
وژني.په مخ کي سرخي پیداکوي.دفلج ناروغانودپاره فایده
رسوي.دپوښتورګي ډبري غوځوي.په اوبوکي چي وه ایشول
سی بیاغرغره سیدغاښودتینګیدودپاره ډیره مجربه ده.ډیر
خوراک ئي وینه سوځوي.دمواسیردپاره ډیره مضره
ده.دحاملې ښځي دپاره تاواني ده.په بدن کي صفراء
پیداکوي.دسترګونظر کمزوري کوي.چي په شیدوکی واچول
سی اوپه دانوپوریکړل سي ډیره فایده کوي.دخوړي سره چي
یوځاي کړه سي اودپیس په بدن ومښل سي پیس جوړیږي.که
په خُته کي نوچرک وي راباسي ئي.ددې تولوفایدوسره بیاهم
بیله ضرورته استعمال ئي ښه نه دي.ځکه فرشتې ددې دبوي
څخه کرکه کوي.اودرسول الله□حدیث دي چي ددې
اومهخوړلووالادي ومسجدته نه داخلیږي.

## دلمرتودې اوبه فیس ناجوړي پیداکوي:

علاج:امام جلال الدین سیوطي رح
لیکلی دي چي حضرت عمر رضي الله عنه فرمائلي دي
چي دلمر په تودواوبوسره غسل مه کوئ ځکه دادپیس
ناجوړي پیداکوي.

## دخارش علاج:

علاج:په بخاری اومسلم کي د حضرت آنس رضي الله عنه
څخه روایت دي چي آنس رضی الله عنه فرمائي چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library


حضرتعبدالرحمنرضي الله عنه اودحضرت زبيرابن العوام رضي الله عنه په بدنوخارش پيداسوي وودوي مباركان ډير پريشانه وه نوپه دې وخت كي دوي ته رسول الله□دورښمني جامي اغستلواجازه وركړه.دمسلم په بعضي رواياتوكي راغلي دي چي دجنګ په وخت كي ورسول الله□ته دشپږوځخه شكايت وسونورسول الله□دغه كسانوته دمجبورئ له مخي دوريښمني جامې اغستلواجازه وركړه فايده:ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي يوخودنارينه دپاره دوريښمني جامې اغوستل حرام دي ځكه كه حرام نه وائي نودرسول الله□اجازې ته كوم ضرورت نه وو.دويمه خبره داده چي دمجبورى په حالت كي حرام شی هم حلال وي.ددې څخه ماسواداخبره هم معلومه سوه چي وريښم دخارش دپاره مفيددي.ځكه چي وريښم زړه ته طاقت اوخوشحالي وركوي.اوسوداوي ناجوړي ليري كوي.صاحب موجز ليكلي دي چي د وريښموتاثير ګرم دي اوداخوشحاله ونكي دي.وريښمينه جامه دشپږودفاع كوي.

## دذات الجنب ياپښتي دردعلاج:

علاج:ترمذی دحضرت بن ارقم رضی الله عنه څخه روايت كوي چي رسولالله□فرمائلي دي چي اي خلګو دذات الجنب علاج په قسط بحري اوزيت (خونان)سره كوئ.فايده:داباېدوپيږندل سي چي دقسطبحري دوه قسمه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library


يوقسم خوږدي چي سپين وي اودويم تريخ دي چي په رنګ توردي.دذات الجنب هم دوه قسمه دي يودادی چي په سينه کي نو(چرک)وي اودانوپه اولنيوعصلاتوکي وي بياددننه دخواڅخه راښکاره سي.اوداقسم ډير خطر ناک دي.علامه ئي داده چي تبه،ټوخی اونفس تنګي پيداسي اودردناخس ډيروي تنده ډيره وي.دذات الجنب دويم قسم دادي چي دبادبنديدلودکبله په بغل کي دردپيداسي قسط بحري ددې قسم دردعلاج دی.داستعمال طريقه ئي داده چي قسط بحري به ميده کړئ اودزيتون دغوړوسره به ئي ګډکړئ ددردځای به په غوړکړي نوانشاء الله فايده به وکړي.اوکه لمړی قسم وي نودهغه علامې مومخکي بيان کړې.دبلغم څخه پيداکيږي.دغه علاج:دبلغمی مزاج خلګوډپاره هم مفيد دي.خوکه نوصفراوي يادموي وي بيانوداعلاج مفيدنه دي.په يوه حديث شريف کي راغلي دي چي يووخت رسول الله□ناروغسونوکوروالائي پوه سوه چي دذات الجنب يادبغل دردناجوړي ورپيښه سوي ده نوئي دقسط بحري اودذيتون تيل دده مبارک په خله کي ورواچول نورسول الله□په اشاره سره دوی منع کړل خوهيڅوک هم دده په اشاره پوه نه سوهکله چي رسول الله□جوړسونوپوښتنه ئي وکړه چي داڅه شي وه چي ماته موراکړه؟خلګوورته وويل چي داقسط اوزيتون وه رسول الله□وفرمائل چي چي تاسوزمامرض ذات الجنب ګڼلي ووحالانکه الله□به ماددې ناجوړي څخه محفوظ وساتي اووئي فرمائل چي چازماپه خله کي دادواراچولې ده دهغه په خله کي دي هم واچول سي.فايده:ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي څوک دطب اوحکمت څخه پوره خبرداره نه وي نو هغه بايدهيڅ کله

(c) ketabton.com: The Digital Library


دچاعلاج ونه کړي.ولي که چاته دده په دواتاوان ورسیدی نوپرده ضمانت لازمیږي.صاحبدسفرالسعادةدعمرابن العاص رضی الله عنه څخه روایت کړي دي چي څوک په ناپوهي سره دچاعلاج کوي نوهغه ضامن ګرځي.

## دسر ددردعلاج اودنکریزوخاصیتونه:

علاج:په ابن ماجه کي راغلي دي چي درسول الله□په سرباندي چي به کله دردسونوپرسربه ئي نکریزي کینودلپاوفرمائل به ئي چي بیشکه نکریزي دالله□په حکم سره فایده کوي.فایده:داعلاج دهغه درددي چي دموي نه وي نوددي علاج دويني کښلوپه ذریعه کیږي.ابوداودکي راغلي دي چي چاچي به ورسول الله□ته ددردشکایت وکړ نورسول الله□به ورته وینه کښل(ښکر لګول) وفرمائل.اوچاچي به دنس ددردشکایت درلودي نوپرهغه به ئي دنکریزواینبودلوامر وکړي.په جامع ترمذي کي دام رافع رضی الله عنه څخه روایت دي چي پر رسول الله□به کله داني راوختي یابه لمبي ووهي نوبه ئي نکریزي ددانوپرځای کینودلي فایده:اطباءوو لیکلي دي چي نکریزي دبدن غوټي خلاصوي نوځکه رسول الله□دنس دردپه وخت کي نکریزي استعمال کړي دي.دنکریزوخصوصیت دادي چي رطوبت فاسده دبدن څخه وچوي.اطباءوولیکلي چي که پوره یوه میاشت سرې نکریزي داوومثقالوبورې سره وخوري دجذام ناجوړي دپاره مفیددي.که دچانوکان غورځیدلي وي نودنکریزواوبه دي دی چنړکړي اودرلسوورځوپوري دي وڅیښي نوانشاءالله اصلي نوکان به ئي راسي.دپوښتورګي اومثانې ددبرودپاره ددې استعمال مفیددي.که په خوله کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


زخم وی نودنکریزواوبه غرغره کول ورته ډیره ګټه رسوي.دځنګنوددرددپاره هم ډيري مفيدي دي.

## دکوچنيانودحلق ناجوړي:

علاج:غداره دشيدورودونکوماشومانومخصوصه ناجوړي ده.اواکثره په حلق کی وي اوددې ناجوړي اصل سبب دادي چي دائي (قابله)ئي دماشوم په حلق کي کيږدي اوپه زورسره ئي ورپري وهي .نوددې کبله دغه ناجوړي په ماشومانوکي پيداکيږي.علامه ئي داده چي دماشوم دخلې اوپزي څخه هر وخت وينه راځي ځکه خورسول الله□بنځي منع کړي دي چي دماشومانوحلق دې په ډير زورسره نه ورپري وهي اوددې ناجوړي علاج ئی داسی بیان کړي دي.اماماحمد بن حنبل په خپل کتاب مستدرک کي ليکلي دي چي يووخت رسول الله□دعائشې رضی الله عنها وکورته ورغي په دغه وخت کي عائشې رضی الله عنهاته نژدې يوکوچني هلک ناست ووچي دسږموڅخه ئي وينه روانه وه رسول الله□وفرمائل چي داولي؟څه په وسوه؟چي دده دسږموڅخه داسي وينه ځي؟خلګوورته وويل چي دي دتالوياحلق پورته کيدوده وجي اوپرسرئي هم درددي رسول الله□وفرمائل افسوس دي پربنځوباندي چي په دارنګه خپل اولادهلاک کوي.يعني دماشومانوتالوياحلق داسی مه پورته کوئ چي ماشوم داسي حالت ته ورسيږي.بيائې لاربنونه وکړه چي کوم ماشوم ته داناجوړي پيښه سي نوبايديولږ.اندازه قسط بحري په اوبوکيحل کړئ اودماشوم په پوزه کي ئې ورواچوئ.حضرت عائشې رضی الله عنهاداعلاج دماشوم ومورته وروښوي اوپه دې علاج سره هغه ماشوم جوړسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دقسط بحري فايدې:

اطباوولیکلي دي چي قسط بحري بندي بولي اوبندحیض خلاصوي.دبدن خرابي مادي جذب کوي.دځیګرسینې غوټې خلاصوي.درحم ددرددپاره مفیددی.معدې ته طاقت ورکوي.غلیظ رطوبات دفع کوي.ددماغواوبندونودرډلیري کوي.بادونه باسي.دسکنجبین سره چي یوځای سي اوورځل سي دتبې څلورمه حصه وره کیږي.دعسلوسره چي یوځای سي اوخوړل سي دساه لنډی اوزاړه ټوخي دپاره مفیددیدفلج دپاره مفیددي.دُودول ئې زکام ته فایده رسوي.که څوک دااعتراض وکړي چي قسط بحري خوګرم دي نوددې ناجوړي دپاره څنګه مفیددي؟جواب دادي چي خرابه وینه اوبلغم سره یوځای سی نَوپیداکیږي بلکه بلغم زیات اووینه کمه وي.اودقسط بحري ګرمي بلغمي رطوبت جذب کوي.ځکه نودادواپه غدره کي مفیده ده.اوبعضې علماووداجواب ورکړي دي چي دادرسول الله□یوه معجزه ده اوپه دې کي خبري کول بی عقلي اوناپوهي ده اودعقیدې مخالف کار دي.

## دزړه درداودهغه علاج:

علاج:ابوداوددحضرت سعدرضی الله عنهځخه روایت کړي دي چي زه یووخت ناروغه سوم نورسول الله□دپوښتني دپاره راغي اوخپل لاس مبارک ئي زماپه سینه باندي کیښودي دلاس یخوالیاوخوشحالي ماپه خپل زړه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


محسوسه کړه بيائي راته وويل چي ته بايددحارث بن کلاه وخواته ولاړسي ځکه هغه دخلګوعلاج کوي.اوحارث ته پکار ده چي دمديني اووه خرماوي راواخلي اودهډوکي سره ئي يوځاي وټکوي بيائي په تاوخوري.فايده:علماوولیکلي دي چي الله□دمديني په خرماکي داخاصيت ايښي دي چي دزړه ددردپاره فايدهرسوي.اوداووه عددپه باره کي چي کوم خاصيت دي هغه الله□اوداالله□رسول□ته معلوم دي.حکماءاونورخلګ ځني عاجزدي ځکه چي ددې تعلق يوازي دوحي سره دي.په بعضې احاديثوکي راغلي دي چي څوک هر سهاراووه داني خرمادمديني خوري.په هغه به هيڅکله جادواوزهراثر ونه کړي.

## علاج اوپرهيز کول سنت دي:

علاج:ددې خبري معلومات هم ضروري دي چي کله علاج کول سنت دي نوپرهيز کول هم سنت دی هيڅوک دانه مني چي پرهيزکول غيرشرعي عمل دي.ځکه پرهيزکول په قرآن ثابت دي.څرنګه چي الله□فرمائلي دي چي (که تاسوناجوړي ياست نوتيمم وهئ)اورسول الله□حضرت صهيب رضی الله تعاليعنه ته فرمايلی وه چي تاسوخرمامه خورئ ځکه ستاسوسترګي خوږيږي،اودحضرت علي رضی الله تعالی عنه واقعه هم تيره سوي ده چي رسول الله□دکمزوری په وخت کي دخرما خوړولوڅخه منع کړی وه.نوددي ټولودلاءلوڅخه معلومه سوه چي په ناجوړي کي پرهيزکول هم ضروري دي ديندار اوحاذق (پوه)طبيب چي کوم پرهيزتجويزکي دهغه مطابق پرهيزکول لازمي دي.که يوحکيم بې له ضرورته يوچاته يوحرام شی وښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library


بايدچيهيڅ کله ونه منل سي ځکه مخکي معلومه سوه چي طبيب به مسلمان اوحاذق وي دصحت اوجوړتيادپاره په الله□باندي اعتمادپکاردي.

## دخد اوبي حسي علاج:

علاج:خدداسي ناجوړي ده چي دانسان په بدن کي ديوشي دکبله حس اوحرکت ديخ اوګرمي احساس پاته نه سي په سفر السعادت کي ليکلي دي چي يوسړی په ناپوهي سره يوي درختي ته نژدې سويوڅوبلګونه يي ځندي وشکول هغه يي وخوړل نوهغه خلګ ټول بې حساوبې حرکته سوه.رسول الله□فرمايلي دي چي په يوه ژي (ګډی)کي دي اوبه يخيسي دسحرداذاناوتکبيرتحريمه په منځ کي دي په دغه خلګوباندي وپاشل سي.

## دثبره اوددانوعلاج:

علاج:ثبره په هندي ژبه کي دانوته وايي.ددې علاج په سفرالسعادة کي ليکلي دي.چي امهات المئومنين ته يوې ښځي وويل چي زماپرګوته دانه راپورته سول.رسول الله□زماکورته تشريفراوړی.پوښتنه يي وکړه چي ستاخخه لږتوره زريره سته ؟ماورته وويل هوسته.نووې فرمائل چي په دانوباندي ئي پوري که.فايده:دقطب الزرير هميدي ته زريره وائی.قطب الزريره چي زړه سي نوددې ددننه څخه يوغونډشی راوځي هغه ته زريره وائي جالينوس ليکلي دي چي قطب الزريره په اوبوکي ميده کړل سي اوپه دانوپوري سي داني جوړيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دمریض په پوښتنه کولوباندي دمریض تسلي کیدل:

علاج:دمریض سره ښه خبري کول پکاردي څکه چي په دې سره دمریض زړه خوشحاله کیږي.اودمریض تکلیف په کمیږي.په سفر السعادةکي دحضرت ابوسعیدرضی الله تعالي عنه څخه روایت دي چي کله تاسودیومریض پوښتني ته ورځئ.نودهغه دعمرداوږدوالي خبري کوئ.په دې سره دمریض تقدیرنه بدلیږي لیکن دمریض زړه په خوشحاله کیږي.فایده:مطلب دادي چي هر کله تاسودمریض پوښتنیته ځئ.نودمریض دزړه دخوشحالی خبري کوئ.مثلاً هغه ته داسي خبري کوي چي ته فکر مه کوه انشاء الله ډیرژربه صحت پیداکړي.اوستاخواوس لاډیرعمرپاته دي.په دغه خبروتقدیرنه بدلیږي خوددې فایده داده چي دمریض زړه په خوشحاله کیږي.

## دغصې اوقهر لیري کولوعلاج:

علاج:قهراوغصه هم دناروغیوڅخه یوه ناروغي ده چي خپل ځان ته هم تاوان رسوي اونوروته هم قهراوغصه پیداکوي.دصفراءډیر والي له کبلهپه جوش سره کله کله حرارت دباندي راسي تبه،دسردرد،بی هوښي اوددې څخه ماسوانوري ناجوړي هم ورڅخه پیداکیږي.کله کله بیاداسي حالت ته ورسیږي چي دژبې څخه کفري کلمات راوزي.دداسي خلکوعزت په معاشره کي ډیرکم وي.دښمنان یي ډیر وي.دوستان یيکم وي.دغه سي کسانوته که طاقت کم حاصل سي نوخلکوته نقصان رسوي.اوکه طاقت یي نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوبیادغصې څخه خپل ځان هلاکوي.یومشهورمتل دی چیکه غصه درویش برجان درویش (ترجمه)ددرویش غصه پرخپل ځان وي ښکنځل کوي خپلي جامي څیري اوکله دخودکشۍ کوشش هم کوي.ځکه رسول الله□فرمائي اي خلګوغصه هم سکروټه ده چي دخلګوپه زړونوکي بلیږي اودغصې داورکیدودلیل دادي چي دغصې په وخت کي سترګي سرې وي،دښت رګونه هم وپړسیږي،رنګ بدل سي،اوټول بدن په جوش راسي.فایده:ددې حدیث شریف څخه معلومه سوه غصه یواوردي چي په زړه کي پیداکیږي لیکن په بدن باندي ښکاره سي.ځکه خوانسان لره پکارده چي دغصې په وخت کي ترخپله وسه ددې اورڅخه ځان وساتي.که وچاته غصه راسینوپه دې حدیث شریف کي درې علاجونه ذکردي بایدکاروړڅخه واخستل سي.اول یخي اوبه دي وچښي دوهم که دغصې په وخت کی سړي ولاړوي بایدکښینی اوکه ناست وي بایدپریوزي دریم الله□دې وریپادکړي اودادعادې ووائي(اعوذبالله من الشیطن الرجیم)په دې دروطریقوسر هغصه (قهر) کمیږي.

## دناروغي اوغم علاج:

علاج:په سفرالسعادةکي لیکلي دي چي کله به درسول الله□په کورکي یابه دعائشي رضی الله تعالي عنهایوقریب وفات سونو رسول الله□به تنبیه پخوله اودښورواسره به یي خوړل.اوفرمائل به یي چي ای خلګوداخورئ ځکه چي په دې کي شفاده.دعائشې رضی الله تعالي عنهاڅخه روایت دي چي مادرسول الله□څخه اوریدلي دي چي تنبیه دزړه دناروغیولپاره راحت ورکونکي دي.بغض اوغم ختم کوي.په

(c) ketabton.com: The Digital Library


بعضباحاديثوكي راغلي دي چي كله به رسول الله□ته
چاديوسړي دناجوړي وويل چي فلانكي دناجوړي دكبله
خوراک نه كوي رسول الله□به ورته دتنبيه دپخولواوپه
بيماردخوړلوو فرمائل.اوفرمائل به ئي چي قسم په هغه ذات
پاک سره چي زماروح دده په قبضه كي ده چي تنبيه نس
داسي پاكوي لكه سړي چي مخ دخيروڅخه
پريمنځي.فايده:تنبيه يونرم شی دي چي چيښل
كيږي.دجوړولوطريقه يي داده چي داوربشووړه بيله
چڼړلوڅخه په شيدوكيپاخه كړل سي اوعسل ورسره يوځاي
سي.ديخې دلوورسته وڅښل سي.بعضی وخت دثريدسره
يوځاي هم څښل كيږي.

## دزهروتاوانونه اوعلاج يي:

علاج:په سفرالسعادةكي ليكلي دي چي يوې يهودي ښځي په
غوښه كي زهر واچول بيائي درسول الله□په خدمت كي
وړاندي كړل رسول الله□يوڅه ځندي وخوړل.الله□غوښي ته
دخبروكولوتوان وركي اووې ويل چي تاسومامه خورئ ځكه
زه په زهروككړه سوي يم.رسول الله□ددې ښځي څخه
وپوښتل چي تاولي ددې غوښې سره زهرګډكړي دي؟هغې
وويل ماستادازميښت لپاره ورسره ګډكړه
تاسورسول□ياست.ځكه خوپه تاسوزهرهيڅ اثرنه
كوي.دمعجزي په طورخوهغه وخت هيڅ اثر په رسول
الله□ونه سو.ليكن دننه په بدن كي هغه زهرواثر وكي.ددې
واقعې څخه ورسته درې كاله رسول الله□ژوندی وو.په دغه
درې كاله كي به كله كله دزهرواثرمعلوميدی.نورسول
الله□به په څټ اواوږوباندي وينه وكښل.دوفات په وخت كي

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله□وفرمائل چي هغه زهرچي ماخوړليو ههغه زهروزمادسيني رګونه پريکړي وه.په دغه وخت رسول الله□وفات وکړي.علماوو ليکليدي چي رسول الله□ته دشهادت مرګ ورکړل سوي دی.الله□ددې لوي نعمت څخه بې برخي کړي نه دي.په رسول الله□چي کله يهودانوجادوکړي وه دغه وخت هم رسول الله□پر سرباندي وينه کښلې ده.دجادواونوروبيان کول دلته بې ځايه دي ځکه ددې بيان په طب الهي کي کيږي.

## دقي په ذريعه دنارو غيو علاج:

علاج:په مشکوةشريف کي راغلي دي چي رسول الله□يووخت قی ووهي ورسته ئي بيااودس وکي.فايده:ددې حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي ده مبارک به کله ناکله دقی په ذريعه هم علاج کوی.ځکه خواطباوو ليکليدي چي په قي وهلوسره دماغ صفاکيږي.اومعده هم صفاکيږي.دمعدی رطوبت وچيږي.دبقراط قول دي چي په مياشت کي دوه واره قي وهل پکاردي ځکه که په اول وارڅه شی پاته سی نوپه دويم واربه راووزي اوپاکی به وسي.ليکن په ډير قی وهلوسره سينه اوپه معدهکي دردپيداکيږي.ددې څخه دامعلومه سوه چي دامام ابوحنيفه په نيز په ډکه خوله سره په قی وهلواودس ماتيږي ځکه قي هغه دي چي په ډکه خوله سره وي اودننه چي څه وي هغه په جوش سره دباندي راووزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دمولي دبوي علاج:

علاج:صاحب سفرالسعادةدتنزيه الشريعت څخه ابن مسعود رضی الله تعالي عنه روايت کړي دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي څوک مولي خوري اوغواړي چي دخولې څخه ئي بوی ولاړنه سي نوهغه لره پکارده چي مايادکي.په بل روايت کي دي چي په مادردشريف ووائي.فايده:بعضې علماوولیکلي دي چي موږ ددې تجربه کړي ده په دې عمل سره دمولي بوي ځي.دمولي فايدې دادي اواز صفاکوي،لوږه پيداکوي،دخوراک ورسته په ځتلوسره بادونه دنس ختموي،دمخ رنګ صفاکوي،هميشه خوراک ئي ختلي وريښتان بيرته راپورته کوي اودمولي عرق دبدن غوټې خلاصوي.

## هريره اوددې فايدې:

علاج:په جامع کبيرکي راغلي دي چي هريره دهر ي ناجوړی څخه شفا ده.دهريرې فايدې دادي معده پاکوي،بادونه خارج کوي،بندي بولي خلاصوي،شيدي زياتوي،حيض خلاصوي،دپښتورګي څخه ډبري ليري کوي،بلغم خارج کوي،دمواسيرودپاره هم ډير مفيد شی دي.

## دکرفس اونرګس فايدې

په جامع کبيرکي دي چيکرفس خورئ ځکه چي داعقل زياتوي.اونرګس هره ورځ که په ورځ کي نه وي په هفته کي که په هفته کي نه وي په مياشت کي که په مياشت کي نه په کال کي يووارالله□ په نامه ويلوسره بوي کوي.دکرفس

(c) ketabton.com: The Digital Library


فايدي دادي قبض راولي،لوړه زياتوي،زړه ته طاقت ورکوي،دبلغم فسادورکوي،مني زياتوي،دنس چنجيان وژني،دزړه ايشيدل ورکوي ليکن په نس کي سوزش پيداکوي،ذهن تيزوي.دنرګس فايدي دادي ماده جزب کوي،رياح حل کوي،رحم پاکوي،حمل غورځوي،دمعدې څخه فاسد موادليري کوي،زخمونه ډکوي،چي دعسلوسره يوځاي کړه سي دبندوددردپاره مفيددي،په يخ کي بويول ئي دنزلي دپاره مفيد دي.

## دلوبياخاصيتونه اوفايدې:

علاج:مردانه قوت ته حرکت ورکوي،مني پيداکوي،شيدې پيداکوي،مني زياتوي،بندي بولي خلاصوي،حيض جاري کوي،دبدن ترقي کوي،دملاددرداوپښتورګيدپاره ډيره فايده رسوي،ژرنه هضمکيږي،ددې په خوراک سره غليظي مادي پيداکيږي،ددې مصلح خردل اوزنجبيل دي،دحمل په وخت کي اکثردلوبياخوراک سره اولادهوښيار پيداکيږي.

## دهندوانې خاصيتونه اوفايدې:

علاج:دنوروفايدوڅخه علاوه دهنوانې يوه فايده داده چي دحمل په وخت کي ئي ښځه زياته خوري نوماشوم ښائسته اوتندرست پيداکيږي.

## نسيان هيره پيداکيدونکي شيان:

په لاندي نهوذکرسووشيانوسره هيره پيداکيږي.١پنيردغوړوسره خوړل.٢دهغه شی خوړل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


سپي بوي ورباندي کبنلي وي.۳ تریوسیب خوړل.۴کشنیز زیات خوړل.۵ پرڅټ باندي زیاته وینه کبنل .۶ددوبنځوپه منځ کي تلل.۷دخپل مطلوب وطرفته کتل.۸دشیږي ژوندي پریښودل.۹دقران کریم تلاوت په هدیرهکي ډیرکول فایده دنس دچنجیانودوژلودپاره په نهره خرماخوړل: ډیرمفیددي.که څوک غواړي چي قرآن کریم حفظ کړي نوبایددعسلواستعمال زیات کړي داروایات دجامع کبیر څخه رااخستل سوي دي.

## دمشک خاصیتونه اوفایدي:

علاج:صاحب جامع الصغیردسلمه بن اوکع رضی الله تعالي عنه څخه روایت کړي دی چي رسول الله□به په خپل ږیره اوسر مبارک باندي مشک لګول.فایده:علماوولیکلي دي چي مشک رنګ سور کوي.دزړه،دماغو،اومردانه قوت دپاره ډیرفایده منددي.غم اوخفګان لیریکوي،دبدن غوټي خلاصوي،بویول ئي نزله دره وي،لګول ئي قوت باه په حرکت راولي،که دچاپه سترګوکي غبارياسپین والي وي دمشکولګول ډیره فایده ورته رسوي.ددوي لګول دبۍ هوښي دپاره هم ډیرمفیددي.دفلج له کبله چي بدن بې حرکته سي نودمشکولګول ډیره فایده ورته کوي.دهیري دپاره هم ډیرمفیدشي دي.

## درنجوصحیح طریقه:

علاج:په ابوداودکي روایت دي چي رسول الله□دشپي دبیدیدوپه وخت کي دخوشبوئي اوسترګوتورولوحکم کړیدي.فایده:بعضې علماوولیکلي دي چي دخوشبوداره څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دلته مشک چي رانجه ورسره ګډسوي وي مرادادي.په ابن ماجه کي روايت دي چي داثمدرانجه درټولورانجوبهتردي.ځکه دغه رانجه سترګي روښانه کوي.بانړوګان ګڼوي.دترميذي په شرحه کي راغلي دي چي اصفهاني رانجوته اثمدوائي.په بعضېاحاديثوکي راغلي دي چي ځوک سترګي توروي نوطاق ځله دی توروي.فايده علماوودسترګوتورولودرې طريقې بيان کړي دي.اول داچه دوه سلايان په راسته سترګه کي دوه سلايان په چپه سترګه کي بيايوسلائي په راسته سترګه کيدوهم داچي دوه سلايان په راسته سترګه کي دوه سلايان په چپه سترګه کي.دريم داچي درې سلايان په راسته سترګه کي درې سلايان په چپه سترګه کي.

## دخوشبوئي فايدې اوخاصيتونه:

علاج:په سفرالسعاةکي ليکلي دي چي درسول الله□په خدمت کي چي به چاخوشبوئي وړاندي کوله نورسول الله□به نه ردوله دده مبارک ارشاددي چي که تاسوته ځوک خوشبوئي درکوي مه ئي ردوئ.فايده:دعلماووبياندي چي دخوشبوئي په استعمالولواودکورونوپه صفاساتلوسره صحت جوړيږي اوخوشحالي حاصليږي.زړه ته هم ډيرطاقت ورکوي.په مسندبزازکي روايت دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي الله تعالي□صفائی کونکی دوست لري بخښونکي اوبخشش کونکي دوست ګڼي.ځکه نوهرچاته پکارده چي خپل کوراوداوسيدلوځايونه پاک وساتي ديهودانوپه شان نه سي چي په خپلوزړنوکي ګندګي جمع ساتي اوخوشبولګوي ځکه چي په دې سره فرشتې کوروونوته نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دشپې اوپه جاموسره دجاروكولونقصانونه:

په صلوةمسعودي كښي ليكلي دي چي دشپې په جاروو هلوسره محتاجي راځي.په بستان كي ابوليث ليكلي دي چي كه څوک په جاموسره جاروكوی نوهغه به محتاجه وي.

## دمختلفوخوراكونوجمع كولونقصان:

علاج:په سفرالسعادةكي ليكلي دي چي رسول الله□دوې مختلفي قسم غذاګاني هم يودبل سره نه استعمالولي اودوه قبض كونكي اودوه عمل كونكي غذاګاني هم نه سره جمع كولي يعني يوځاي به ئي نه خوړلي هيڅ كله داسي نه دی شوي چي ده دي ماهي خوړلي وي اوبغيرددهضم كيدوځخه دي ورسته شيدي څښلي وي.شيدې اوهګي شيدي اوغوښه ئي هم يودبل سره نه دي خوړلي.مطلب داچي ترځوپورى يوشى نه وي هضم سوي دويم شي ئي نه دي خوړلي ځكه چي دمختلفوشيانوپه هضم كولوسره پرمعده باندي ډير بوج راځي اوددې وجي څخه قبض هم پيداكيږي.

## دخوراک څخه ورسته سپورت كول:

علاج:دجسماني صحت دپاره حركت كول ډيرمفيددي ځكه چي رسول الله□فرمائلي دي چي دذكراولمونځ په ذريعه سره هضم كوئ دخوراک كولوورسته دستي بيديدل نه دي پكارځكه په دغه عمل سره زړه سختيږي فايده:په مواهب كي ليكلي دي چي كوم سړي چي خپل بدن تندرست اوجوړغواړي بايدهره شپه دخوراک ورسته ١٥٠قدمه مزل وكړي.شيخ الرئيس اونوروواطباوو ليكلي دي چي په ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library


حرکت سره حرارت غريزي تحليل کيږياوکمزورتياپيداکيږی.دبعضې اطباوودانظردي چي په ډير حرکت سره حواس ګډوډکيږي ليکن ددې مطلب دانه دي چي بلکل دي حرکت نه کوي ددې څخه کاهلي اوسستي پيداکيږي.په دې وجه دجسماني صحت اوتندرستيادپاره سفرکول هم يوعلاج دي ځکه په کتاب الطب کي ابونعيم دابوهريره رضی الله عنه څخه روايت کړي دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي سفرکوئ ځکه چي ددې په ذريعه صحت اوتندرستي پيداکيږي.

## دمسواک فايدې اوخاصيتونه:

علاج:معجم اوسط کبني طبراني دابن عباس رضی الله عنه څخه مرفوعاًروايت کړي دي چي رسول الله □فرمائلي دي چي دمسواکپه وهلوسره خله صفااوپاکيږي،الله□خوشحاله کيږي،مخ اونظرروښانه کيږي،په جامع کبير کي راغلي دي چي په مسواک سره فصاحت زياتيږي،الله□خوشحاله کيږي،غاښونه صفاکيږي،په خله کي خوشبوئي وي،وري ټينګيږي،حلق دبلغم څخه پاکيږي،رطوبت ليري کوي،ځکندن اسانه کوي،دمرګ په وخت کي کلمه نصيب کيږي،خوراک هضم کوي،په رزق کي ډيروالي راځي،دغاښوګندګي اودردليري کوي،معده قوي کوي،عقل تيزوي،زړه پاکوي،مخ نوراني کوي،زړه اودماغ ته طاقت ورکوي،اودعامونارو غيودپاره ډيرمفيددي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دخوب فايدې اونقصانانونه:

علاج:په جسماني علاجونوكي يوموثرعلاج خوب دي ځكه الله□ په خپل كلام كي فرمائلي دي (الله□داسي دي چي ستاسي دپاره ئي شپه مقرره كړيده ځكه تاسوارام كوي اودتولي ورځى ستړياوزي اوتندرستي قائمه سي اودالله□په عبادت كي مشغول ياست)فايده:جالينوس ليكلي دي چي كوم سړي خوراک حل كوي اودنس ماده حل كوي نوده ته پكارده چي خوب وكړي.ليكن په خوب كي هم اعتدال ضروري دي ځكه چي په ډيرخوب كولوسره سړي كمزوري كيږي.ډيرخوب كونكي به په ورځ دمحشر دغريبانواومفلسانوسره راپورته كړل سي.ځكه حضرت سليمان عليه السلام ته خپلي مورنصيحت وكي چي اي هلكه ته ډير مه بديږه ځكه چي درضرورت زيات خوب انسان دقيامت په ورځ مفلس كوي اودمفلسانوپه صف كي په راپورته كيږي.په دوهمه فايده كي علماووليكلي دي چي دخلوروختونودخوب څخه ځان ساتل پكاردي ١دسهارپه وخت كي٢دڅاښت په وخت كي٣دماپښين ورسته ۴درماښام ورسته شيخ الرئس ليكلي دي چي سحر بيده كيدل دانسان بدن كمزوري كوي.مګرنه دغرمي دډوډی ورسته يعني قيلوله كول چي داسنت طريقه هم ده اوددې ډيري فايدي دي مثلاًدماغ مضبوطوي عقل تيزوي د شيخ الرئس قول دي چي دورځي ډير خوب كول مناسب نه دي ځكه چي دورځي بيده كيدل بيده مرضونه راويښوي،تورى سخت كوي،رنګ خرابوي،ليكن دقيلولى څه مضائقه نسته.بايددشپي زياته حصه خوب ته وركړل سي.ټوله شپه په ويښه تيرول

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډيرمضردي.ددې سره دبدهضمي شکايت پيداکيږي.عقل اودماغ کمزوريکيږي.په بدن کي خشکي پيداکيږي.کله کله داسي هم پيښنه سي چي دليونتوب سبب وګرځي.ځکه رسول الله□وحضرت عثمان رضی الله عنه ته دتولي شپې دشوګيري ښخه منعه کړي وه اوفرمائلي ئي وه چي ستادنفس هم پرتاباندي حق دي اوتوله شپه په خوب تيرول هم ښه نه دي بلکه دسفيدوښخه درمخه راپورته کيدل پکاردي ځکه توله شپه په خوب سره شيطان دسړي په غوږکي بولي کوي.

## دآب زمزم فايدي اوخاصيتونه:

علاج:امام جزري په خپل کتاب حصن حصين کي روايت نقل کړي دي چي په آب زمزم کي دهر شي ښخه شفاءسته.که په مرض کي دشفاء په نيت سره وڅيښل سي نوشفاءده اوکه دتندي دپاره وڅيښل سي نوتنده ماته وي.حضرت آنس رضی الله تعالي عنه چي به کله آب زمزم څښلي نودادعابه ئي ويل (اَلّٰهم اني اسئلک علمانافعاورزقاواسعاوشفاء من کل داء)(ترجمه)اي الله□زه ستاښخه دمفيدعلم اودرزق دزياتوالي اودټولوناروغيوښخه دشفاسوال کوم.

## دابوڅيښلوصحيح طريقه:

علاج:په جامع کبيرکي دحضرت ابو هريره رضی الله تعالي عنه ښخه روايت دي چيرسول الله□فرمائلي دي چي هرکله تاسواوبه څښئ نوپه يوه ساه يی مه څيښئ ځکه په ساه څيښلوسره په سينه کي درد پيداکيږي دحضرت آنس بن مالک رضی الله تعالي عنه ښخه ابوحاتمروايت کړی دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسول الله□به په دروساوواوبه څیښلې اوفرمائل به ئی چي داطریقه تنده ښه ماتوي اوخوراک ښه هضم کوي.تندرستي قائمه وي.په بعضې احادیثوکي راغلي دي چي په ولاړي سره داوبو څیښلوڅخه منع هم کړي ده.په ترمیذي اونورو کتابونوکي دحضرت آنس بن مالک رضی الله تعالي عنه څخه روایت دي چي رسول الله□په ولاړي سره دابوڅښلوڅخه منع کړی ده.بعضی اطباوولیکلي دي چي په ولاړي سره اوبه څیښل په نس کي درد پیداکوي.بعضې عالمانولیکلي دي چی په ولاړي سره اوبه څیښل په دروځایونوکي جائز دي.اول آب زمزم دوهم آب سبیل (دخیرات په نیت ایښودل سوي اوبه)دریم آب وضوء (داودس څخه ورسته پاته اوبه)په بعضې احادیثوکي دمشک څخه هم په ولاړي اوبه څیښل صحیح بللي سوي دي.بعضې اطباوولیکلي دي چي په ولاړه اوپروته سره اوبه څیښل اعصاب اومعده کمزورې کوي.په بعضې احادیثوکي راغلي دي چي درسول الله□یخي اوخوږي اوبه ډیري خوښي وي.ځکه په ابوداودکي دعائشې رضی الله تعالي عنها څخه روایت دي چي مابه درسول الله□دپاره یخي اوخوږې اوبه دسقیاڅخه راغوښتې (سقیادیوکلي نوم دي چي دمدیني څخه ددروورځوپه مزل باندي دي)په فایده کښي لیکلی دي چي شیخ ابوعلي سیناویلي دي چي خوږي اوبه درټولوبهتره دي.دابوڅیښلوصحیح وخت هغه دي چي کله ده خوراک دهضم کیدووخت وي.که دخوراک هضم کیدوورسته اوبه وڅیښل سي نوډیره به بهتره وي.بعضې اطباوولیکلي دي چي دخوراک څخه مخکی اوبه څیښل دمعدې حرارت ختموي.اودخوراک څخه ورسته اوبه څیښل په معده کي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرمي پيداکوي اوبدن پرسوي.بقراط ليکلی دي چي دخوراک څخه ورسته دستياوبه څيښل ښه نه دي.په نهاره اوبه څيښل هاضمه خرابوي.دخوراک څخه ورسته اوبه څيښل غذاهضم کوي.په احياء العلوم کي امام غزالي ليکلي دي چي دخوب څخه دراويښيدوورسته دستي اوبه مه څيښئ ځکه حرارت غريزي ختميږي.دجماع کولوورسته اوبه څيښل دګوزن ناروغي پيداکوي.دميوې دخوړلوورسته هم اوبه څيښل ښه نه دي ځکه پرژبه باندي زخمونه پيداکيږي.

## درتولوغوره اوبه کومي دي؟

ترټولواوبوغوره اوبه دباران اوبه دي.تردې ورسته رواني جاري اوبه دي چي دمشرق څخه ومغرب طرف اويادمغرب څخه ومشرق طرف ته بهيږي.يادشمال څخه وجنوب طرفته بهيږي.ددې څخه ماسوانوري اوبه هم مفيدي دي دطب په کتابوکي ددې پوره تفصيل سته دڅاه اوولې اوبه يوځاي کول اواستعمالولدسختوناروغيودپيداکيدوسبب ګرځي.فايده:په سفر السعادةکي ليکلي دي درسول الله□ارشاددي چي تاسودلوښوخولې پټوئ ځکه په کال کي يوه شپه داسي راځي چي داسمان څخه بلاوي نازليږي اوپه هغه لوښوکي چي سر يی لځ وي لويږي.

## ددوايانودوه قسمونه دي:

١ادويات طبعي٢ادويات الهيادويات الهي ته ادويات روحاني هم ويل کيږي.تراوسه پوري په دې کتاب کيدطبعي ادوياتوذکرکيدي په دېکي اطباء هم شريک دي.اوس به دالهي ادوياتوبيان کيږي چي دادانبياء عليهمالسلام څخه ماسوائي

(c) ketabton.com: The Digital Library


نورهيڅوک نه پيژني.دادويات الهي مختلفي طريقې دي چي کله په آيات قرآني،کله په اسماء الهي،اوکله په دعاسره علاج کيږي.کله په رقيه چي په فارسی کي ورته افسون اوپه هندي کي ورته منترويل کيږي علاج کيږي.ليکن منترهغه صحيح دی چي په اسماء الهي اوياآيات قرآني سره وي.اومعني يی هم معلومه وي.ځکه چي دناداني له وجي ښخه په شرک کي مبتلانه سي.ځکه خودرسول الله□معمول داووچيکله به دده ښخه دمنترکولوخواست وسونوده به وکتل که به چيری دشرک ښخه پاک وونودمنترکولواجازه به ئي ورته ورکړه چي داعمل وکړي اوخپلوورنړوته فايده ورسوي.په ابوداودوغيره کي دبن مسعودرضی الله تعالي عنه ښخه روايت دي چي رسول الله□فرمايلي دي چي رقيه (منتر)تمائم طيره شرک دي.فايده:ددې حديث شريف ښخه معلومه سوه چي بعضې منترهم شرک دي ليکن شرک په هغه منتروسره دي کم چي دقران اواسماء الهي ښخه نه وي.اومعني ئي هم معلومه نه وي.اوکم منترچي دقران اواسمائي الهي سره برابروي په هغه کي هيڅ باک نسته په دريمه فايده کي ليکلي دي چي تمائم دطميمي جمع ده اوطميه خرمرې ته ويل کيږي اودزمري وغيره نوکان هم پکښني شامل دي.عربان دخپلوماشومانوپه غاړه کي دبدنظرښخه دحفاظت لپاره داشی يعني خرمهره اچوي.دې ته رسول الله□شرک ويلي دي.

## دعام تعويذدکولوحکم:

په کوم تعويذکي چي آيات قراني اواسمائي الهي نه وي ياوي خودغيرالله□نوم هم ورسره شامل وي داسی تعويذونه

(c) ketabton.com: The Digital Library


صحيح نه دي.ددې څخه معلومه سوه چي کوچنيانوته دچادنوم طوق،ځنځير،ياطبندورپه غاړه کول هم صحيح نه دي.ولي چي داهم په طمائم کي راځي.ددې دليل دادي چي که په خرمهره يادزمري په نوکونوکي شکاره هيڅ شرک نسته ليکن اچونکي داعقيده لري چي ددې شيانوپه ذريعه ماشوم دبدنظرڅخه محفوظ وي بس دغه شرک دي دغه رنګه دخلګونيت په ځنځير،طوبندوغيره کي هم دي نوداهم شرک دي.

## دمنتر(تعويذ )حکم:

بعضې ښځې دخپل ميړه دمحبت دحاصلولودپاره منترونه اوکوډې کوي.رسول الله□دې ټولوخبروته شرک ويلي دي ليکن چي کوم منترداسي وي چي معني ئې نه وي معلومهاوهغه رسول الله □ اوريدلي وي اودهغه څخه ئې منعه نه وي کړی نودهغه په کولوکي څه نقصان نسته ځکه که په دې کی شرک وائي نورسول الله□به ضرورمنع ځندي کړي واي درسول الله□پته خوله پاته کيدل ددې کاردصحيح کيدودليل دی.

## په روحانيادوياتوسره دعلاج طريقه:

کم سړي چي په الهی (روحاني)ادوياتوسره علاج کول غواړي نوده ته پکارده چي دهرڅه مخکي خپله عقيده خالصه اوپخه کړي که نه وي نوهيڅ فايده به ورته ونه رسيږي کله چې فايده ورته ونه رسيږي نودخپل ځان څخه ماسوادي څوک دې نه ملامته وي.ځکه دواهم هغه وخت فايده کوي چيکله معده جوړه صحيح وي اوکه معده صحيح

(c) ketabton.com: The Digital Library


کارنه کوي نودواهم فایده نه کوي.تاسوته معلومه ده چي په جاموباندي رنګ هغه وخت ښه سم راځي چي کله جامي ښه پاکي اومضبوطه وي.په خرابه اوکمزوري جامه باندي رنګ سم نه راځي نودلته نقصان درنګساز نه بلکي دجامې دي.همداسی مثال دعقیدېهم دي چي کله عقیده جوړه اوسمه وي نوروحاني دوائي فایده ورته رسوي اوکله چي عقیده سمه نه وي نوروحاني دواهیڅ فایده نه رسوي.کله کله داسي هم وي چي دسړي عقیده سمه وي لیکن هغه بیاهم علاج نه کوي ددې وجه داده چي هغه سړي په غفلت ناخبرتیابی دلي (چی دزړه اخلاص پکښي نه وي)سره دعاکوي،یادحراموو غیره څخه پرهیز نه کوي.کله کله داسی هم وي چي یوسړي دیومرض دپاره دعاکوي اوبل مرض چي دي دهغه په شتون ناخبره وي ددې دعاپه برکت سره لیري کیږي بنده دافکر کوي چي زمادعانده قبوله سوې.ځکه دحدیث شریف مضمون دي چي دعااوبلاپه خپل منځ کي یودبل سره غیږباسی (کشتی کوي) دعاغواړي زه غالبه سم اوبلاغواړي چي زه غالبه سم اودعادې ته شکست ورکوي اودغه رنګه درقیامته پوري جنګ کوي.دمعالجات روحاني په ذریعه علاج کول دهرچاڅخه ښه نه دي بلکه داسی علاج دعالم ،متقی،اودیندراه سړي څخه کول پکاردي.ځکه چي دنیکانوخلقوپه ژبه کي الله تعالي□یوتاثیرهم ایښي وي اوددې خلقودعاهم الله تعالي□قبلوي دالله تعالي□په فضل اوکرم سره ددوایانواوداروګانواودطب حصه سرته ورسیده اوس دقرآني آیاتونواوداحادیثوددعاګانوحصه شروع کیږي.

دالله□بنده محمدرفیق کاکاخیل عفاالله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوله حصه ختمه سوه:

## دويمه حصه:

## دالله تعالی□په نومونوسره علاج كول:

## په دعاويلوسره دتبی علاج:

علاج:په مشكوة شريف كي راغلي دي چي په چاتبه راسی نوپه هغه دي دادعادم كړل سی.ناروغ ئي خپله هم پر خپل ځان ويلي سی.دعاداده:وعن ابن عباس أن النبي صلى الله عليه و سلم كان يعلمهم من الحمى وم الأوجاع كلها أن يقولوا بسم الله الكبير أعوذ بالله العظيم من شر كل عرق نعار ومن شر حر النار (ترجمه)شروع كوم دالله□په نوم سره دلوي رب څخه پناه غواړم اوداوردګرمي څخه اودهري لمبي والااورڅخه.

## دسترګي دتكليف دعا:

علاج:امام جزری په حصن حصين كي ليكلي دي چي دچاسترګي خوږوي هغه دي دادعاوائي اودم دې كي دعاداده:الهم متعني ببصري واجعله الوارث وارني فی العدووتاري وانصرني علي من ظلمني.(ترجمه )اي الله□زمابينائي باقی وساتې اوددښمن په مقابله كي زمابدله راكړې اوچي په ماباندي ظلم كوي دده مقابل زمامددوكړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دعامو ناجوړيو دپاره دعا:

علاج:صاحب سفر السعادة دابوداودڅخه روايت رانقل کړي دی چي مادرسول الله□څخه اوريدلي دي چي څوک ناروغ وي هغه دي دادعاوائي:ربنا الله الذي في السماء تقدس اسمك أمرك في السماء والأرض كما رحمتك في السماء فاجعل رحمتك في الأرض و اغفر لنا ذنوبنا وأنت رب الطيبين أنزل رحمة من رحمتك وشفاء من شفائك على هذا الوجع (ترجمه)ای زماخدايه چي ستانوم مقدس دي اوستاحکم په مځکه اواسمان کي جاري دي څرنګه چي په آسمان کي ستارحمت دي دغه شان په مځکه باندي هم خپل رحمت نازل کړه پاک ئي دخلګورب ئي دخپلورحمتونوڅخه رحمت اودخپل قدرت څخه شفاء راکړې په روايت کي ددې څخه ورسته ليکلي دي چي کم سړی چي دادعاووائي الله تعالي□به هغه ته شفاء ورکړي اوکهدچايه پښتورګی کي ډبره وي اوبولي ئي بندي سوي وي نودهغه دپاره هم دادعاډيره مفيده ده.

## دمارخوړلي دپاره دعا:

علاج:په صحيح مسلم کي دابوسعيد خدري رضی الله تعالي عنه څخه روايت دي چي دهغه حاصل دادي چي دصحابه وويوجماعت يوکورته ولاړي چي دهغه کورمالک مارخوړلي وودکورخلګوصحابهکراموته وويل چي تاسوددی علاج وکړي اصحابی کراموورته وويل چيکه ستاسومشر جوړسي نوڅه شی به راکړي کوروالاورته وويل چي يوډنګردبيزوبه درکړو(په بعضي رواياتوکی راغلي دي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


دبیزوتعداد دیرش وو)په صحابه کراموکي یونفر دهغه
کوروالادپاره سورةفاتحه (الحمدالله شریف)وویل اوپردم ئي
کړه اومارخوړلي جوړسو.صحابه کرام چي بیرته
راوګرځیدل نورسول الله □ ته ئي ټوله واقعه بیان کړه رسول
الله□ورتهوویل چي تاسوډیرښه وکړه.لیکن تاسوته داڅنګه
معلومه سوه چي سورة فاتحه دمارخوړلیدپاره دم دي؟بیائي
وفرمایل چي دغه بیزی په خپلوکي سره تقسیم کړئ
اوزموږحصه هم پکښی مقرره کړي.فایده ددي حدیث شریف
څخه دامعلومه سوه چي کوم علاجونه دقرآن اوحدیث شریف
څخه ایستل سوي دي که په دي باندي څوک اجرت اخلي
نوهیڅ تاوان نسته اودغه اجرت پاک اوحلال دي.

## دقران کریم څخه دجسماني اوروحاني ناروغیوعلاج:

علاج:قران کریم دروحاني اوجسماني دواړوناروغیودپاره
فایده منددي ځکه په ابن ماجه کي دحضرت علي رضی الله
تعالي عنه څخه روایت دي چي قران درټولوبهتره
دواده.اوامام بهیقی واثله بن اسقع څخه روایت کړي دي چي
یوسړی ورسول الله□ته دحلق ددردشکایت وکړي هغه ورته
وفرمایل چي دقران تلاوت خپل طریقه اوعادت جوړکه.ابن
ماجه اوابن مردویه دحضرت ابوسعیدخدری رضی الله تعالي
عنه څخه روایت کړي دي چي یوسړي دخپلي سیني
ددردشکایت ورسول الله□ته وکړي هغه ورته وفرمایل قران
شریف وائي ځکه چي الله تعالي□فرمائلي دي چي قران

(c) ketabton.com: The Digital Library


شریف ددې ناجوړی دپاره شفاء ده کمه چی ستاپه سینه کي ده.

## دسوره فاتحې خاصیتونه:

علاج:سورة فاتحه دهرمرض دپاره مفیده ده ځکه په بعضې احادیثوکي راغلي دي چي په سورة فاتحه کي سوادمرګ څخه دهرې ناجوړی څخه شفاء ده.اوبیهیقی دحضرت ابوسعید خدري رضی الله تعالی عنه څخه روایت کړي دي چي سورة فاتحه دزهرودواده رسول الله□ماته ارشاداوکړي چي هر کله ستاسودبیده کیدواراده وي نوسورة فاتحه اوسورة احد وایاست.ددې په برکت به دمرګ څخه ماسوادهري بلاڅخه محفوظ یاست.امام جزري په خپلکتاب کي لیکلي دي چي که یوسړی لیوني سی نوپه دغه سړي باندي دردري ورځوپوري سهاراوماښام درې واره سورة فاتحه وایاست اوپردم کوئ ئي.

## دلیونتوب لیري کولوعمل:

علاج:صاحب اتقان کي دابیکعب رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي چي زه یوه ورځ درسول الله□په وړاندي حاضر وم چي یواعرابی(صحرائی)راغلي اوعرض ئی وکړي چي زماورورناروغ دي رسول الله□پوښتنه ځني وکړه چي څه ناجوړي ئي ده؟هغه وویل چي زماورورلیوني سوي دی.رسول الله□وفرمائل چي ماته ئي راوله هغه ولاړي وروړئي راوستي رسول الله□ هغه ځانته کښینوي اوده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخامخ ئي سورة فاتحه اوڅلوراولني اياتونه دسورة بقرې ولوستل ترمفلحون پوري الهکم اله واحداويوآيات ايات الکرسی اودرې اياتونه اخرى دسورة بقرې اويوآيت سورة ال عمران دشهدالله څخه ترحکيم پوري اويوسورة اعراف دان ربکم څخه تر رب العلمين پوري اويوآيت دسورة الجن وَأَنَّهُتَعَالَى جَدُّ رَبِّنَا مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَلاَ وَلَدًااودرې اياتونه دسورة صفت ترعذاب پوري اودرې آياتونه سورة حشر اوقل هوالله اومعوذتين قل اعوذبرب الفلق اوقل اعوذبرب الناس دااياتونه ئي پردغه سړی وه لوستل اودغه سړي په دغه وخت کي داسی جوړسولکه ګرسره چي ناجوړي سوي نه وي.

## دهرقسم درددپاره عمل:

علاج:امام جزری په خپل کتاب کي ليکلي دي چي دکم سړی يوځايدردشروع کي نوده ته پکارده چي خپل راسته لاس ددرديرځاي باندي کښيږدي اواووه واره دادعاووائي اوهر واردي لاس پورته کوي دعاداده:بسم الله اعوذبعزة الله وقدرته من شرمااجدومن وجع هذا(ترجمه)شروع کوم په نامه دالله□سره پناه غواړم په عزت اوقدرت دالله□سره دخپل درداوتکليف څخه په کوم کي چي مبتلاء يم.

## دډيرامراضودپاره دعا:

علاج:په حديث شريف کي راغلي دي چي کله رسول الله□ناروغه سونوجبرائيل عليه السلام دادعاويله

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله ارقيک من کل شيءٍ يوذيکمن شرکل عين حاسدٍ الله يشفيک بسم الله ارقيکترجمه)شروع کوم دالله□په مبارک نامه سره زه ستاحفاظت کوم الله□دي تاته دهر تکليف ورکونکي شی اوهري حسد کونکي سترگي دحسداوشرڅخه شفاء درکړي دالله□په مبارک نامه سره ستاحفاظتکوم.

## دلړم خوړلي دپاره دعا:

علاج:په مستدرک ابي شيبه کي دعبدالله بن مسعودرضی الله تعاليعنه څخه روايت دي چي رسول الله□په لمانځه ولاړوولړم پر گوته وخوړئ کله چي دلمانځه څخه فارغ سووئي فرمائل چي الله□دي لعنت په لړم وکي ده نه دامت نبی□ پريښودي نه ئي بل څوک ورسته به ئي په اوبوکي مالگه واچول اوگوته به ئي پکښي ونيول.اوسورة احداومعوذتين به ئي ويل شروع کړه ترهغه وخته پوري چي دردختم کيدي.په بعضې رواياتوکي ددې علاج سورة فاتحه اووه ځله ويل هم راغلي دي.په بعضې رواياتوکی راغلي دي چي درسول الله□په خدمت کي يوصحابی رضی الله تعالی عنه عرض وکي چي يارسول الله□زمادلړم دم زده دي رسول الله□چي داواوريدل نووئيويل چي داعمل کوئ اوخلگوته فايده ورسوي.هغه دم دادي:

بسم الله شجة قريبة ملحة يجراقفطا:دادم ډيرويل اوپرلړم خوړلي ځاي باندي ئي دم کوئ.فايده:ددې دم معني اکرکه مونږته نه ده معلومه مگر چي رسول الله□واوريدي نودويلواجازه ئي ورکړه نوپه دې سره په علاج کولوکي هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library


نقصان نسته.کچيري په دې کي دشرک څه شبه وائي نورسول الله□به هيڅ کله هم اجازه نه وائي ورکړې.

## دزخم اودانوعلاج:

علاج:که دچاپربدن باندي زخم ياداني وي نوبايدچي دشهادت ګوته پرمځکه باندي کيږدي اوبيائي راپورته کړي اوپرزخم باندي ئي کښيږدي اودادعاووائي :بسم الله تربة ارضنابريقة بعضنايشفيسقيمناباذن ربنا(ترجمه)شروع کوم دالله□په نامه سره چي دمځکي خاوره چي په موږکي دچاناړوسره يوځاي سي نوزموږرب شفاء ورکوي.څوک چي هره ورځ داعمل کوي انشاءالله جوړبه سی.په مسلم شريف اونوروکتابوکي دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها څخه روايت دي چي يوسړي درسول الله□په خدمت کي حاضر سواوورته وئي ويل چي يارسول الله□دکوم وخت څخه چي مسلمان سوي يم دهغه وخت څخه مي په بدن کي درد پيداسويدي رسول الله□ورته وفرمائل چي ددردپرځاي باندي لاس کښيږده اودرې واره بسم الله اواووه واره اعوذ بالله وقدرته من شر ماأجدواحاذر ووايه.

## دطاعون اووباعلاج:

علاج:په بعضېاحاديثوکي راغلي دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي طاعون يوقسم عذاب دي چي په بني اسرائلواوپه تيروسووامتونوباندي راليږل سوي وه.کله چي سړي په دې خبر سی چي په فلان ځاي کي وباراغلې ده بايدهغه ځاي ته سړي ورنه سی اوکه په هغه ځاي کي چي

(c) ketabton.com: The Digital Library


سږي اوسیږي طاعون وبانازله سی بایدورڅخه ولاړنه سی.فایده:دطاعون څخه دلته وبامرادده لکه څرنګه چي په صراط المستقیم کتاب کي راغلي دي.ددې حدیث شریف مفهوم دادي چي وباهم یوقسم عذاب دي چي الله ئي دګناهونوپه وجه نازلوي کله چي معلومه سی چي فلانی ځاي کي وبانازله سوي ده نو هلته دی سړي نه ځي ځکه په قصد سره ځان په هلاکت کي اچول جائز نه دي.اوکه په هغه ځاي کي اوباراسی چیري چي سړي اوسیږي دهغه ځاي څخه بل ځاي ته تلل هم نه دي پکار ولي چي دتقدیرالهي څخه تیښته کول هم ښه نه دي.بلکه په بعضی احادیثو کي راغلي دي چي دطاعون په مرګ سره دمسلمان مرګ دشهادت درجه لري.په بعضې احادیثوکي راغلي دي چي وباوطاعون دشیطانانواوپیریانانونشتردی.یعني دوي دانسانانوپه بدن کي نشتر ووهي چي دهغه په وهلوسره دانسان په بدن کي زهر وپاشل سی اوانسان مړسي.زماګرانووړنودامکان ترحده دګناهونوڅخه خپل ځانونهوساتئ.په حدیث شریف کي راغلي چي په کوم قوم کي زنارواج سی نوپه دغه قوم کي مرګ عام کړه سی ددې حدیث شریف څخه معلومیږي چي دوبالیري کولوترټولوښه علاج توبه اوکثرت استغفاردي.دسکنجبین اوګلابودشربت په ځاي باندي ددعاشربت څیښل پکاردي.په حدیث شریف کي راغلي دي چي څوک پرځان باندي استغفارلازم کړي نوالله ورته دهرغم اوتکلیف څخه نجات ورکوي.په بعضې احادیثوکي راغلي دی چي نازلي سوي بلاګاني اوهغه چي نازلي سوي نه دي هغه ټولي الله تعالي ددعاپه برکت سره لیري کوي.دوباپه ورځوکي بایدصدقي اوخیراتونه ډیروسي.په

(c) ketabton.com: The Digital Library


حديث شريف كي راغلي دي صدقه دالله تعالي□ غصه اوقهر سړوي په دغه ورځوكي دآلوبخارى ددانوپرځاي سبحان الله په خله كي كيږدي ځكه چي په حديث شريف كي راغلي دي چي سبحان الله ويل سړي دالله□دعذاب څخه ساتي.اوداهم ضرورى ده چي اطباووئيلي دي چي دوباپه زمانه كي عطر،عنبر،اومشک،وغيره بويول پكاردي.ليكن علماووليكلي دي چي په دغه دوران كي ددي بويولوپرځاي دردشريف په كثرت سره ويل پكاردي ځكه داډير مفيددي.په حديث شريف كي راغلي دي چي درودويل غم ختم كوي.لاحول ولاقوة الاباالله العلي العظيم:ويل هم لازمي دي.ځكه په حديث شريف كي راغلى دي چي داديوسل ناروغيودواده.دوباپه ورځوكي لمنځونوته هم بايدجدي پاملرنه وسي ځكه كله چي به رسول الله□ته كم غم راوړاندي سونونفل لمنځونه به ئي په كثرت سره كول.په دغه ورځوكي دكافور پرځاي تقوي بوي كوئ.ځكه ددې په بركت به موالله تعالى□دټولوبلاګانوڅخه محفوظ وساتي.داعلاج چي پورته ذكر سوروحاني اواصلي علاجووليكن لږجسمانيعلاج دطب هم بيانوو.

## دوباطبى علاج:

دوباپه ورځوكي بايدسړي لاندي تدابير په فهم كي ونيسي.په داسي ځاي كوركي وه اوسيږئ چي هوائي خلاصه وي،اوسايه ولري،خوشبوياني لكه كافور،مشک،عنبر،عود،اوعطر بويول.په غذاكي سركه،ليمبو،اوسكينجبين وغيره استعمالول.په كوركي عوداوكافوردودول.سركه اوعرق ګلاب په ټولوكنجانوكي

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاشل.تکول سوي پیاز په تاخچوکي ایښودل.اوپه هواکي ډیرنه ګرځیدل.که دضرورت په بناءیوې خواته سفر وي نوخله اوپزه اوغوږونه دي په یوه جامه ټینګ پټ کي.دځان سره عطرساتل.ددې موسم دسبزیجاتواوغوښوڅخه پرهیزکول.

## دسحر جادوعلاج:

علاج:په حدیث شریف کي راغلي دي ض چي لبیدبن عاصم یهودي په رسول الله□جادوکړي وو.چي په نتیجه کي رسول الله□بیمارسوپه بعضې روایاتوکي راغلي دي چي دی مبارک شپږمیاشتی ناروغه وواوپه دې وجه رسول الله□ډیر کمزوري سوي وویوه ورځ ئي په خوب کي دوې فرشتې ولیدې چي یوې دبلي څخه پوښتنه وکړه چي درسول الله□څه ناجوړي ده؟هغه بلي جواب ورکي چي په رسول الله□جادوسوي دي.اولي بیاوویل جادوچاپه کړي دي؟دوهمي وویل لبیدبن عاصم.اولي بیاپوښتنه وکړه چي دجادواثر په څه شی باندي دی؟دوهمي وویل چي درسول الله□دسر په وریښتانوکي اودژمونځ په غاښوکي دولس غوټې ئي ورکړي دي اودخرماپه غلاف کي ئي ایښی دي اودوزران په څاه کي ئي درډبره لاندي ښخ کړي دي.کله چي رسول الله□سهار رابیدار سونوسره داصحابورضی الله تعالی عنهم اجمعین ئي ودغه څاه ته تشریف راوړي.دوه صحابیان ودغه څاه ته ورکښته سوه.هغه کوډي اوجادوئي پیداکړي اوراوئي کښلې.بعضې خلقوویلي دي چي دادوه صحابیان حضرت علي رضی الله عنه اوحضرت عماررضی الله تعالی عنه وو.په فتح الباري کي راغلي دي چي په دغه جادوکي

(c) ketabton.com: The Digital Library


درسول الله□مومو شکل جوړسوي وواوپه دې کي ستني چخل سوي وې.کله چي ستن يوه يوه ځني ايستل کيدل هلته به درسول الله□بدن مبارک ارام پيداکوی.او هغه دولس غوټي چی ورکول سوي وي هغه چا نه سواي خلاصولاي ځکه نوجبريل عليه السلام معوذتين راوړل (قل اعوذبرب الفلق اوقل اعوذ برب الناس)اووي فرمائل چي په دې دواړوسورتوکي دولس اياتونه دي پردغه غوټوئي دم کړي ددې په برکت سره به داغوټي خلاصي سي دحديث مضمون ختم سو.په بعضې رواياتوکي دکعب احباررضی الله تعالی عنه څخه روايت دي چي که ماداکلمات سهاراومابښام نه لوستلاي نويهودانوبه زماڅخه دکوډواوجادوپه ذريعه سپي ياخرجوړکړي واي فايده:کعب رضيالله تعالي عنه چي هر کله مسلمان سونويهودان دده دښمنان سوه اوپه ده پسې سول نوده داکلمات لوستل شروع کړهاوديهودانودشر څخه محفوظ سو.دعاداده:

اعوذ بالله بكلمات التامات التی لايجاوز هن بر ولافاجر واعوذبوجهه العظيم الجليل الذي لايختصر جاره الذي يمسک السماء ان تقع علي الارض الاباذنهمن شر التامة ومن شر ماذرافی الارض ومن شر مايخرج منهاومن شر ماينزل من السماء ومايعرج فيهاومن شر كل دابة انت اخذ بناصيتهاان ربي علي صراط مستقيم.

که دادعاڅوک سهاراومابښام وائي نودجادوڅخه به محفوظ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دنمله علاج:

علاج:نمله يوقسم داني دى چى دسږى په بغل کی وي ددې سره سږى ته داسى محسوسيږي لکه په زخم کي چي ميږي ګرځي ددې علاج څنګه چي په ابوداود کښي دشفابنت عبدالله څخه روايت دي چي يوه ورځ حضورکورته تشريف راوړي دغه وخت زه دحضرت حفصې رضى الله تعالي عنهاسره ناست وم ده ماته اوفرمائل چي ته حفصې رضى الله تعالي عنها ته دنملة منتر ولي نه ورښوئ.څرنګه چي تاليکلي اوزده کړي دي دنمله دپاره دعاداده.

بسم الله صلت حتي تفورمن افواههم الهم اکشف الباس رب الناس:دادعاچي په يولرګي باندي وويل سى بيايوه تيز ه سرکه راواخلي اوپه ډبره بانديئي توى کړى اودالرګى په ډبره باندى اومږي اوبيائي په هغه په هغه دانو پوري کړي.ددي حديث شريف څخه دامعلومه سوه چي دښځي دپاره ئي ليکل اوزده کول مکروه نه دي.

## دنقصان لري کولوعلاج:

علاج:که ديوچاڅه نقصان وسي نوداکلمات دوائي ددې په برکت سره الله□ده ته نعم البدل ورکړي هغه دعاداده:

اناالله وااناليه راجعون الهماجرني من مصيبتى واخلف لى خيرامنها:فايده:ام سلمة رضى الله تعاليعنها اولني خاوندته يعني ابوسلمة ته دادعاورښودلي وه نوالله□ده لره ددې شى

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښخه بهتر ورکړه ام سلمة رضی الله تعالی عنهافرمائلي دي چي ماپخپل زړه کي دافکرکوي چي ماته درابوسلمة رضی الله تعالي عنهابهترخاوندڅوکراپيداکيږي ددې واقعې يوڅوورځي ورسته چي رسول الله□زماسره نکاح وکړه په دغه وخت کي ماته معلومه سوه چي داددې دعابرکت دي چي اوس ښکاره سو.

## دنظرکيدلوعلاج:

علاج:دانسان په سترګوکي هم يوقسم زهر موجوددي لکه څرنګه چي لړم نيش جګوي اودمارپه ژبه کي زهر دي ددې په شان دانسان په سترګوکي هم زهر دي اودهغه زهر نظر کيدل دي اونظر صرف په انسان باندي نه بلکي په هر شی باندي لکه په اولاد،څناور،باغ ،دولت،اسباب،وغيره باندي هم اثر کوي.ځکه خوالله تعالي□د خپل نازولي پيغمبر رسول الله□په ژبه ددې علاج هم خپل امت ته ورښودلی دي ددې دپاره چي دالله□مخلوق ددې ښخه فايده حاصله کړي.حضرت حسن بصري رضی الله تعالی عنه ويلي دي چي که څوک دخپل ځان دنظرکيدوڅخه بيريږي نوهغه سړی دي دسورة ن داآيات وائي اودري واره دې پرځان باندي دم کوي:

وَإِن يَكَادُ الَّذِينَكَفَرُواليُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُلَمَجْنُونٌ 51 وَمَا هُوَ إِلاَّ ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ:که يوچاته دبل سړی اولاد،باغ،دکان،حيوان،يابل شی په نظر ښه ورسی نودادعادوائي ماشاء الله لاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم.ددې په برکت به هغه شی نه نظر کيږي.په کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


صراط المستقیم کي لیکلي دي چي امام ابوالقلم قشیري فرمائلی دی چي زمازوي یووختډیرسخت ناروغه سوحتي چي مرګ ته نزدې سوم اتفاقاً راته په خوب کي درسول الله□زیارت حاصل سودهلک دناروغي شکایت مي ورسول الله□ ته وکړي هغه راته وفرمائل چي ددې آیات دشفاء څخه ولي غافله ئي؟آیات شفاء: ١وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ٢وَشِفَاء لِّمَا فِيالصُّدُورِ ٣ يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءلِلنَّاسِ ۴وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءوَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۵ وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ۶قُلْ هُوَ لِلَّذِينَآمَنُوا هُدًى وَشِفَاء:نوماداآیاتونه ولیکل اوپه اوبوکیمي ویلیکړه اوپه زوي مي وخیښل ددې په برکت سره هغه داسی جوړسولکه ګرسره چي ناجوړی سوي نه وي.یوعالم عبدالله ویلي دي چي زماسره یوتیزاوچالاک اوښ وواتفاقاًپه یومنزل باندي مي دتاکیدواراده سوه نوماته یوچاوویل چي دلته یوسړي دي چي په نظرکولوکي ډیر مشهوردي اوستااوښ ډیر ښه دي هسی نه چي درنظر ئی کړي اوستااوښ ضائع سی؟ماپه جواب کي ورته وویل چي زماپه اوښ دهغه نظر تاثیر نه سی کولاي اتفاقاً هغه سړي زماپه دې خبره خبر سوي وونوراغي اوزمااوښ ته ئي یونظر وکتل دکتلوسره یوځاي دستي اوښ پریوتي اوپه لغتووهلوئي شروع وکړه خلګوراته وویل چي ستااوښ نظرسوماهغه سړی راوبلي اوځان ته مي نږدي کښینوي اودادعامي وویل:

بسم الله حبس حابس وشجر یابس شهاب قابض رودت عین العائن علیه وعلي احب الناس الیه فارجع البصر هل تری من فطورثم ارجع البصر کرتین ینقلب الیک البصر

(c) ketabton.com: The Digital Library


خاسئاوهوحسير:ددې منتر په ويلوسره دهغه چپه سترګه ووتله اوزماوښ جوړسو.ددې قصې دبيانولوڅخه مقصدداديچي منتر هم په نظركولوكي مفيدداګركه نظركونكي نزدې نه وي موجودولي چي دالله□په نامه كي ډير بركت دي.

## دبدنظر علاج:

مالک ليكلي دي چي عامر بن ربيعه رضى الله تعالى عنه يووخت سهيل رضى الله تعالى عنه بن حنيف په اوبازي كولو وليدي اودائيوويل چي په خداي قسم دي چي ماداسي بدن نه دسړي ليدلي دي اونه دښځي په دې ويلوسره دستي سهيل رضى الله تعالى عنه بي هوښه سواوغځار سوكله چي رسول الله□په خبر سونووعامر رضى الله تعالي عنه ته يى خشكه وكړه اوورته وئي فرمائل چي خپل مسلمان وروروليهلاكوئ؟اوتادده دپاره دبركت دعاولي نده كړې؟كله چي ستانظر دده په ښكلي بدن باندي ولګيدي نودادعاديولينه ويل:اللهم بارک عليه:كه دي دادعاويلي وائي نودي به نه نظركيدلاي بيائي وفرمائل چي ته اوس خپل اندامونه،مخ،لاسونه،پښي،اواستنجاء په يوه لوښي كي پريمنځه اوهغه اوبه پر سهيل رضى الله تعالي عنه باندي واچوه.ددغي طريقي په عملي كولوسره سهيل رضى الله تعالي عنه په هوښ كي راغي اوولاړسو.نورعمليات هم دبدنظرپه حق كي زماپه بل كتاب (حاجت روا)كي چي نوراني كتب خانې چاپ كړي دي وګورئ.دطب په باره كي مي هم نوركتابونه ليكلي دي لک طب اكبر،طب روحاني،اونورډيركتابونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دبدنظر زخم:

علاج:که څوک نظر سي نوبايددادعاوو ائي:بسم الله الهم اذهب حر هاوبر دهاوصبها:که يوحيوان نظرکړل سوي وي نوڅلوروارہ دي په راسته سږمه کي اودرې واره دي په چپه سږمه کي ورچف کړي ورسته دي دادعاوو ائي:

لاباس اذهب الباس رب الناس اشف انت الشافی لايکشف الضر الاانت:

## دهرقسم بلاواوآفتونوڅخه دحفاظت دعا:

علاج:هر سړی چي سهاراومابنام دادعاوائي نوهغه به دهر مصيبت اوآفتڅخه دالله□په امن اوپناه کي وي دعاداده:

الهم انت ربي لااله الاانت عليک توکلت وانت رب العرش الکريم ماشاء الله کان ومالم يکن اعلم ان الله علي کل شئٍ قدير وان الله قداحاط بکل شيئٍ علماًالهم اني اعوذبک من شرنفسی ومن شر کل دابةٍ انت اخذبناصيتهاان ربی علی صراط مستقيم:

روايت دي دابوداوددصحابي رضی الله تعالي عنه څخه يوچاورته وويل چي ستاپه کورکياورلګيدلي اوسوځيدلي دي ابوداودوويل چي زماکورنه سي سوځيدلاي ځکه چي زه دادعادهغه وخته څخه هره ورځ وايم دکوم وخت څخه چي مي درسول الله□څخه اوريدلي ده ځکه زماکور نه سي سوځيدلاي هغه چي کورته وکتل دکورپه شاه وخواه کي څلورطرفه اوربل وواوپه منځ کي ئي دهغه کورالله تعالي□محفوظ ساتلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دغم اوفکر ليري کولودپاره دعا:

علاج:په صراط المستقيم کي ليکلي دي چي کوم سړی سهاراوماښام دادعااوه واره وائي نوالله تعالي□به ده ته دغم اورنځ څخه نجات ورکړي دعاداده:

حسبى الله لااله الا هوعليه توكلت و هورب العرش العظيم:

## دحاجت پوره کولودپاره دعا:

علاج:که دچاڅه حاجت وي نوده ته پکارده چي دردولس ورځوپوري دولس سوه واره ۱۲۰۰دادعاووائي الله□به دده حاجت ورپوره کړي دعاداده:يابديع العجائب باالخير يابديع:

## دليوني سپي دخوړلودپاره دعا:

که کوم سړي ليونی سپی وداړی نوهغه لره پکارده چي درڅلويښتوورځوپوري هره ورځ دډوډی په يوه ټکره باندي داآيات وليکي اووي خوري انشاءالله دهغه دشره به محفوظ سي:إِنَّهُمْ يَكِيدُونَ كَيْدًا 15 وَأَكِيدُ كَيْدًا 16 فَمَهِّلِالْكَافِرِينَ أَمْهِلْهُمْ رُوَيْدًا:

## دماشومانودحفاظت عمل:

علاج:په القول الجميل کي ليکلي دي چي هرڅوک چي داتعويذ وليکي اودماشوم په غاړه ئي وروځړوي انشاء الله الله□به ئي په خپل حفاظت اوامن کي وساتي.هغه دعاداده:

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحيم اعوذ بكلمات التامة من شركل شيطان وهامة وعين لامة وحصنت لحصن الف الف لاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم.

## دآسيب ليري كولوعلاج:

علاج:په القول الجميل كي ليكلي دي چي هر څوک چي داتعويذ وليكي اوآسيب وهونكي ته ئي ورپه غاړه كړي ياهغه ماشوم چي شيطان ئي په عذابه وي په چيه غوړكي ددآيات شريف ووائي اوچپ دي كړي هغه تعويذ اودعاداده بسم الله الرحمن الرحيم وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمَانَوَأَلْقَيْنَا عَلَى كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ثُمَّ أَنَابَ:انشاء الله□به ئي په خپل حفاظت اوامن كي وساتي.

## دجسم دحفاظت دپاره دعا:

علاج:په ابوداودكي داروايت دي چي رسول الله□خپلي لورته دادعاوربسوولي وه چي څوک ئي سهاراوماښام وائي نودالله□په پناه كي به وي دعاداده:

سبحان الله وبحمده لا قوة إلا بالله ما شاء الله كان وما لم يشأ لم يكن أعلم أن الله على كل شيء قدير وأن الله قد أحاط بكل شيء علما:

## دقرض داداكيدودپاره دعا:

علاج:ابوداودپه خپل سنن كي دابوسعيدخدري رضى الله تعالي عنه څخه روايت كړي دي چي درسول الله□په خدمت كي يوسړى حاضر سواوعرض ئي وكړي چي يارسول

(c) ketabton.com: The Digital Library


الله□زه قرض اوغمونوډير تنګ کړي يم ماته ددې يوعلاج راوښيه رسول الله□ورته وفرمائل چي زه به تاته داسي کلام وښيم چي تاسوئي واياست نوالله□به غم درڅخه ليري کړي اوقرض به دي هم اداکړل سی هغه عرض وکړي چي ضرورئي راوښيه نورسول الله□ورته وفرمائل چي دادعاهر سهاراوماښام وايه:

اللهم إني أعوذ بك من الهم والحزن وأعوذ بك من العجز والكسل وأعوذ بك من الجبن والبخل وأعوذ بك من غلبة الدين وقهر الرجال "هغه سړي ويلي دي چي کله مادادعاشروع کړه نوالله□زماغمونه ليري کړل اوپورونه مي اداسول .

## دغم اوفکر دپاره دعا:

علاج:درسول الله□ارشادګرامي دي چي څوک سهار اوماښام دادعاوائياالله□به دده غم اوفکرليري کړي.

الهم ماصبحت منک في نعمة وعافية وستر فاقم علي نعمتک وسترک في الدنيا:يوسړی درسول الله□په خدمت کي حاضر سوويل ئي زه هر وخت په بلاوواوآفتونوکي راګيريم.رسولالله□ورته وفرمائل چي سهاراوماښام دادعاوايه:

بسم الله علي نفسی واهلي ومالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دشيطان څخه دحفاظت دعا:

علاج:په ابوداودکي روايت دي چي څوک په مسجد کي داخل سي اودادعاووائي نوشيطان وائي چي داسړی نن زمادشر څخه محفوظه سودعاداده:

أعوذ بالله العظيم وبوجهه الكريم وسلطانه القديم من الشيطان الرجيم "

## دبدن دروغوالي دپاره دعا:

علاج:هر څوک چي دخپل بدن خيراوعافيت غواړي هغه ته پکاردي چي سهاراوماښام دادعاووائي ددې دعاپه برکت سره به الله□دي په خپل حفاظت کي ولري دعاداده:

الهم عافيني بدني الهم عافيني في سمعي الهم عافيني في بصري لااله الاانت.

## دهر قسم شر اوآفتونوڅخه دحفاظت دپاره دعا:

علاج:که څوک غواړي چي دغرقيدو،سوځيدو،مار،اولړم دخوړلواونوروآفتونواوبلاګانوڅخه په امن کي پاته سيپکارده چي دادعاهره ورځ په هميشه توب سره ووائي:الهم اعوذبک من التردي ومن الغرق ومن الحرق ومن الهدم واعوذبک من ان يتخبطني الشيطان عند الموت واعوذ بک من ان اموت فى سبيلک مدبراواعوذبک من ان اموت لديغا:درسول الله□ارشادي چي څوک هرسهاراوماښام دادعادرې دري واره وائي نوهغه به دتکليف څخه محفوظ کړل سي.دعادادهبسم الله لايضر مع اسمه شيئ في الارض ولافي

(c) ketabton.com: The Digital Library


السماء وهوالسميع العليم:روايت دي چي ددي حديث شريف راوي فلج سوي وه خلګوورته وويل چي ته هر ه ورځ دادعاوائي بياته څرنګه فلج سوې؟هغه په جواب کي ورته وويل چي ماپه دغه ورځ چي فلج کيدم ددعاويل هيرکړي وه.

## دناجوړی اوغم ليري کيدولودعا:

علاج:په حديث شريف کي راغلي دي چي رسول الله□ته به کله څه غم اورنځ پيښ سونودادعابه ئي ويله:

لااله الاالله الکريم لااله الاالله العظيم الحکيم لااله الاالله رب السموات والارض ورب العرش العظيم:په جامع ترمذي کي راغلي دي چي کله به رسول الله□ته يومشکل ورپيښ سونودادعابه ئي ويل:ياحي ياقيوم برحمتک استغيث:په بعضی رواياتوکي راغلي دي چي رسول الله□به وغمڅن خلګوته دادعاکوله:الهم برحمتک ارجوفلاتکلني الي نفسي طرفة عين واصلح لي شافي کله لااله الاانت:رسول الله□اسماء بنت عميس رضی الله تعالي عنه ته وفرمائل چي زه تاته داسی کلمې وښائم چي دغم په وخت کي ئي وائې؟اسماء رضيالله تعالي عنها ورته وويل چي هوراته وئې ښائې نورسول الله □ وفرمائل چي دادعاووه واره وايه:الله ربي لااشرک به شيئاً:اووئې وفرمائل چي ذالنون يعني:لااله الاانت سبحانک اني کنت من الظالمين:هم هرغم اوتکليف ليري کوي اوارشادئې وفرمائې چي څوک استغفارپه پائبندی سره وائې نوالله□به دهرغم څخه نجات ورکړي اوهغه استغفاردادي:استغفرالله الذي لااله الاهوالحي القيوم واتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library


اليه:اوارشادئي وفرمائي چي دادجنت دخزانوڅخه يوخزانه ده.

## دهر قسم شراوبلاڅخه دحفاظت دعا:

علاج:علامه سيوطي رح په خپل كتاب الاتقان كي ليكلي دي دحضرت آنس بن مالک رضی الله تعالي عنه څخه درسول الله□حديث رانقل کړي دي چي کله ستاسودخوب اراده وي نوسورة الفاتحه اوسورة احدواياست ددې په برکت به الله□تاسودمرګ څخه ماسيوادهر آفت څخه محفوظ کړي.دابوهريره رضی الله تعالي عنه څخه په صحيح مسلم کي روايت دي چي په کوم کور کي دسورةبقره تلاوت کيږي هغه کورته شيطان نه داخليږي.دارمي رح دابن مسعودرضی الله تعالي عنه څخه موقوفاً روايت کړي دي چي څوک دسورة بقرې اول څلور آياتونه(ترمفلحون پوري)اوآيات الکرسي ترخلدون پوري اوآمن الرسول ترآخره پوري ووائي نودده اودده دعيال شاوخواته په دغه ورځ کي شيطان نه راځي اونه كمه بدي ورته پيښه وه لاي سي.که هم داغه آياتونه په ليوني باندي وويل سي نودليونتوب ناروغي ورڅخه ليري کيږي.

## ددعاذالنون دويلوطريقه:

فايده:ذالنون دحضرت يونس عليه السلام لقب دی ده دماهي په خيټه کي دادعاويله چي دهغې په برکت الله□دماهي دنس څخه رابهرکئ دغم اومصيبت څخه ئي نجات ورکړي ځکه ددې دعانوم دعاذوالنون دي څوک چي دادعاوائي نواول دي اودس وکړي اومخ پرقبله په تاريکه خونه کي دي کښيني يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


کوزه اوبه دي ځانته نږدي کيږدي بيادي دادعادري سوه(۳۰۰) واره دري ورځي ياڅلور ورځي ياپنځه ورځي ياڅلويښت ورځي ووائي اول واردي لاس په اوبوکي ونيسي اوپه خپله خله اوبدن دې واچوي دالله□په فضل اوکرم سره دده څخه به غم ليري کړل سي.

## دخپل ځان او همسايه دحفاظت دپاره دعا:

علاج:محامل په خپل فوائدکي دحضرت ابن مسعودرضی الله تعالي عنه څخه روايت کړي دي چي يوسړي رسول الله□ته عرض وکړي چي تاسوماته يو شي راوښيئ چي دهغه په برکت سره الله□ماته نفع راورسوي رسول الله□ورته وفرمائل چي ته اية الكرسي وايه ددي په برکت سره به الله□ستااوستاداولادونوحفاظت اونګهباني کوي اوستااوستادهمسايه په کوربه درحمت نظرکوي.

## دنسيان (هيرى)دعا:

علاج:دارمي رح په خپل سنن کي دحضرت عبدالله ابن مسعودرضی الله تعالي عنه څخه روايت کړي دي چي کم سړي دبيده کيدوپه وخت کي دسورة بقره لس آياتونه وائي نوالله□به قران کريم ورحفظ کړي اوهيربه ځني نه سي هغه آياتونه دادي داية الكرسي اولني څلورآياتونه تر خالدون پوري اودرې اخري اياتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دقرض داداکيدودعا:

علاج:په طبرانيکي دحضرت معاذبن جبل رضی الله تعالي عنه څخه روايت دي چي زه تاته داسي دعاوښايم چيکه پور(قرض) دغره په اندازه هم وي الله تعالي به ئي اداکړي دعاداده:قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِتُؤْتِي الْمُلْكَ مَن تَشَاء وَتَنزِعُ الْمُلْكَ مِمَّن تَشَاء وَتُعِزُّ مَنتَشَاء وَتُذِلُّ مَن تَشَاء بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىَ كُلِّ شَيْءٍقَدِيرٌ 26 تُولِجُ اللَّيْلَ فِي الْنَّهَارِ وَتُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِوَتُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَتُخْرِجُ الَمَيَّتَ مِنَ الْحَيِّوَتَرْزُقُ مَن تَشَاء بِغَيْرِ حِسَابٍ:ورسته دي دادعاووائي:رحمن الدنياوالاخرة ورحيمهماوتعطي من تشاء منهاوتصنع من تشاء ارحمني رحمة تغنيني فيهمامن رحمة من سواک.

## دحيوان دسر کښی په وخت کي دعا:

علاج:په بيهيقي کي دحضرت عباس رضی الله تعالي عنه څخه روايت دي چي که چاته دخپل حيوان څخه تکليف ورسيږي ياسورلي نه قبلوي ياوزن نه پورته کوي نوبايددغه حيوان په غوږکي دادعاووائي اوورچف ئي کړي دعاداده:أَفَغَيْرَ دِينِاللّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِيالسَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ.دويم علاج:طبراني په معجم اوسط کي دحضرت انس ابن مالک رضی الله تعالي عنه څخه روايت دي چي دچا مريي يامنځه سرکښه وي اودهغه اطاعت نه کوي يادچاولادسرکښه وي نودهغه په غوږکي دي دادعاووائي اودم دي کړي نوانشاء الله دغلام مينځي اواولادسرکښي به ختم سي اودده به فرمانبرداره سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دهر قسم ناجوړیودپاره دعا:

علاج:امام بيهيقي رح دحضرت علي رضی الله تعالي عنه ښځه موقوفاً روايت کړي دي چي څوک ناروغه وي پرده باندي دي سورة انعام ووائي نوالله□به ددې دعاپه برکت سره شفاء ورکړي.

## دغرقيدوڅخه دحفاظت دعا:

علاج:ابن سني رح دحضرت حسين ابن علي رضی الله تعالي عنه ښځه روايت کړي دي چي درسول الله□ارشاددي چي زمادامت ښځه کم سړی په کښتۍکي دسپريدوپه وخت کي دادعاووائي نودغرقيدواوډوبيدوڅخه به په امان سي.

بِسْمِ اللّهِمَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ وماقدرواالله حقَ قدره والارض جميعاَقبضته اليوم القيامة والسموات مطويات بيمينه سبحانه وتعالی عمايشرکون .

## دجادوليري کولودپاره دعا:

ابن ابي حاتم دليث ښځه روايت کوي چي په چاباندی جادوسوی وي نوداآيتونه دي په اوبوباندی ووائي اوناجوړه کس دې وپاشی انشاء الله شفاء به پيداکړي هغه ايتونه دادي :دسورة يونس دوه اياتونه دفلماالقوه ښځه بياترمجرمون پوري .يوايات دسورة طه انماصنعواکيداًدايات ترپايه پوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دپريشاني اوتكليف دعا:

علاج:حاكم دحضرت ابوهريره رضی الله تعالي عنه څخه روايت كړيدي چي درسول الله□ارشاددي چي په ماباندی کله څه غم سختي ياپريشاني راسي نوجبريل عليه السلام ماته دغه ويلي دي چي اي محمد ه دادعاووايه.وتوكلت علي الحي الذي لم يتخذ ولداولم يكن له شريک فی الملک ولم يكن له ولي من الذل وكبره تكبيرا.

## دغلوڅخه دحفاظت دپاره دعا:

علاج:امام سيوطي رح په خپل كتاب الاتقان كي دابن عباس رضی الله تعالي عنه څخه روايت دي چي درسول الله□ارشاد دي چي څوک دادعاوائي نودده كور به دغلوڅخه محفوظه وي.

ادْعُواْ اللّهَ أَوِ ادْعُواْ الرَّحْمَـنَ أَيًّامَّا تَدْعُواْ فَلَهُ الأَسْمَاءِ الْحُسْنَى وَلاَ تَجْهَرْ بِصَلاَتِكَ وَلاَتُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَلِكَ سَبِيلاً 110 وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّهِالَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَم يَكُن لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْيَكُن لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلَّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا.

## دناروغي څخه دشفاپيداكولودعا:

علاج:كه څوک ناروغه وي نودده په غوږكي دادعاوويل سي اوچف دي كړه سي انشاء الله شفاء به پيداكړي:

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًاوَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لاَ تُرْجَعُونَ 115 فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّلاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيم 116 وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِإِلَهًا آخَرَ لاَ بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ إِنَّهُلاَ

(c) ketabton.com: The Digital Library


يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ 117 وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ
خَيْرُالرَّاحِمِينَ:بيهقي رح دابن مسعودرضى الله تعاليعنه څخه
روايت کړي دي چي رسول الله□فرمائلي دي چي څوک
داآيت په پوره يقين سره ووائي نوغربه هم دخپل ځايه څخه
وخيژي فايده:مطلب داچيناروغي خويومعمولي اوکوچني شي
دي غره ته لاهم حرکت ورکولاي سي.

## دزړه دسختي دپاره دعا:

علاج:په مستدرک کي دابوجعفر علي محمدباقررح څخه
روايدي چيڅوک په خپل زړه کي سختوالي محسوس کړي
اودالله□په مخلوق رحم اوشفقت نه کوي اودچانصيحت نه
قبلوي نودغه سړي ته پکارده چي پريوغاب (پليټ)باندي
سورة يسين په زعفرانوباندی وليکي اووه دي
چيښيداحاديثوپه کتابونوکي دسورة يسين مختلف خاصيتونه
راغلي دي حتي که دزکندن په وخت کي پرسړي باندي وويل
سي زکندن ورباندي اسانه کيږي.که ديوحاجت دپاره وويل
سي هغه حاجت دسره کيږي.که پر ليوني باندي وويل سي
جوړيږي.که سهاروويل سي نودرماښامه پوري دده
خوشحالي باقي وي .ددې څخه ماسواعالمانوليکلي دي چي
سورة ياسين دزړه دخوشحالۍ اوفرحت دپاره موږډير مجرب
پيداکړي دي.دغه رنګهکه څوک سهارسورة دخان ووائي
ترماښامه پوري به دخداي په حفاظت کي وي.دارمي روايت
کړي دي چي څوک سهارسورة دخان ووائي ترماښامه پوري
به هغه په مکروه کارکي مبتلانه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دفقر اولوري ليري كولودپاره دعا:

علاج:بيهقي رح دابن مسعودرضی الله تعالي عنه څخه مرفوعاً روايت كړي دي چي څوک چي هره شپه سورة واقعه تلاوت كوي هيڅ كله به ده ته لوږه ورپيښه نه سي يعني دخوراک تنګي به هيڅ كله ورباندي رانه سي.

## دولادت داسانتياپاره دعا:

علاج:بيهقي رح دابن مسعودرضی الله تعالي عنه څخه مرفوعاً روايت كړي دي چي كه ښځي ته دولادت په وخت كي سختي درداوتكليف زيات وي اوولادت نه كيږي نوداكلمات دي وليكلي اوپريږ دې منځي په ناروغه ښځه دې وخيښي كلمات دادي.

بسم الله الذي لااله الاالله الحكيم الكريم سبحان الله تعالي رب العرش العظيم الحمد الله رب العلمين كانهم يوم يرونهالم يلبثوالاعشية اوضحهاكانهم يوم يرون مايوعدون لي يلبثوالاساعة من النهار بلاغ فهل يهلک الاالقوم الفسقون.په صاحب الاتقان كي دابن سخي څخه روايت نقل سوي دي چي كم وخت دحضرتفاطمېرضی الله تعالي عنهادولادت وخت نږدي سونورسول الله □داايات دسورة اعراف:

إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِأَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُحَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُالْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ:اومعوذتين ليكل اوپه طوردتحفې به ئي وركول په دې وجه به په ولادت كي اساني راتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دوسوسي دفعه کولودپاره دعا:

علاج:ابوداوددابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوي چي کله ته په خپل زړه کي وسوسه محسوسه کړي نودادعاوائې.هوالاول والاخر والظاهر والباطن وهوبکل شئٍ علیم.

## دورک سوي شي دپاره دعا:

علاج:علامه جزري په خپل کتاب کي لیکلي دي چي که دیوچاڅخه یوشي ورک سوي وي یامنځه اومریي ځني وتښتي نوده ته پکار ده چي اول اودس وکړي بیادوه رکعته لمونځ وکړي اوبیادي په دې کلماتوسره دعاوکړي .

بسم الله هادي الضلال ورادالضالة ارددعلي ضالتي بقوتک وسلطانک فانهامن عطائک وفضلک.

## دبازاردشرڅخه دحفاظت دپاره دعا:

علاج:په بازارونوکي قسماقسم فتنې موجودي وي ځکه نوهر مسلمان لره پکارده چي ترهغه وخته پوري دي هیڅکله بازارته نه ځي ترڅوچي درسول الله□راښودل سوي علاج ئې نه وي کړي ځکه جزري رح روایت کړي دي چي دچاوبازارته دتللوضرورت وي نواول دي دادعاووائي بیادي ولاړسي.بسم الله الهم اني اسئلک خیرهذاالیوم وخیر هذاالسوق وخیر مافیهاواعوذبک ان اصیب فیهایميناًفاجرةً وصفقةً خاسرةً.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دناروغی ثخه دحفاظت دعا:

علاج:که څوک ناروغه ووینې اودادعاووائې نوالله تعالي□به دغه ناروغه په خپل حفاظت کې ساتلې ولري.اودغه بیماري به ده تههیڅکله ونه رسیږي دعاداده:الهم اني اعوذبک الحمد لله الذي عافاني ممابتلاک به وفضلني علي کثیرممن خلق تفضیلاً.

## دفحش (بدردثخه)دحفاظت دپاره دعا:

که یوڅوک په فحش ویلوعادت سوي وي علاج ئې دادي چې استغفاردي ډیروائي.ځکه چې یو سړي درسول الله□په خدمتکي حاضرسواوعرض ئې وکړي چې زماژبه په فحش ویلوعادت سوي ده رسول الله□ورته وفرمائل چې ته ولي استغفارنه وائې زه خوهره ورځ استغفاروایم.

## دوسوسوثخه دحفاظت دپاره عمل:

علاج:په حدیث شریف کې راغلي دي چې چاته ډیره وسوسه وریپیښیږي نوده ته امنت بالله ویل در(ورسله) پوري ویل پکاردي اوپه بعضې احادیثوکې راغلي دي چې دادعادي وائې:الله احد الله الصمد لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوااحد.په بعضې احادیثوکې راغلي دي چې چاته په زړه کې وسوسه وراچوي ددغه شیطان نوم حنزب دي په دې وجه دي اعوذ بالله وائي اوچپه خواته دې چف کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دنعمت دزياتيدودعا:

علاج:په حديث شريف كي راغلي دي چي كله يوسړي ته الله□يونعمت ورکړي اوهغه سړی الحمد الله رب العالمين ووائي نوالله□به ته تردې نعمت زيات اوبهتر ورکړي.

## دمال دزياتيدلودعا:

علاج:ځوک چي غواړي چي زماپه مال كي دي بركت وی بايدچي دادعاوائي.

الهم صل علي محمد عبدک ورسلک وعلي المومنين والمومنت وعلي المسلمين والمسلمات:

## ددرودشريف فايدي اوخاصيتونه:

ددرودشريف فائدې خوبې شماره دي ليکن كومي فائدې چي دقولي حديثونوځخه ثابتي دي دهغومختصراً بيان دلته كوم ددې دپاره چي دطب نبوي ځخه پوره فائده حاصله سي.ځوک چي يوواريه رسول الله□باندي درودوائي الله□اوفرشتې پردغه سړي باندي لس واره دردوائي.اوددغه سړي لس درجې پورته كيږي.اوپه عمل نامه كي ئي لس نيکي ليکل كيږي.لس بدي ئي محوه كيږي.دعائي قبليږي.په ورځ دقيامت به درسول الله□سره ولاړوي.ددې ځخه ماسواددردشريف په ويلو سره ددين اودنياكارونه پوره كيږي.ګناهونه په بخښل كيږي.دردشريف دصدقې پرځاي باندي هم دريږي.ددردپه بركت سره تكليف اوسختي ليري كيږي.ناروغانوته شفاء وركول كيږي.په دښمن باندي فتحه حاصليږي.په دردويونكي باندی فرشتې هروخت رحمت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ليږي.په دې سره دزړه صفائي کيږي.په کوراومال کي برکت راځي.وويونکي ته ئي درڅوپيړيوپوري دبرکت اثرظهوروي.دمرګ دسختيوڅخه نجات وي.دردويونکي دقيامت دتکليفوڅخه په امان وي.په دنياکي الله تعالي نجات ورکوي.ددردشريف په برکت سره هيرسوي خوب سړي ته ورپه يادېږي.تنګ دستي ليري کيږي.ددردشريف ويونکي بخيل نه وي.په کم مجلس کي چي دردشريف ويل کيږي ټول اهل مجلس الله په خپل رحمت کي پټوي.ددردويونکي به په پل صراط باندي په اسانه تير سي.دردشريف درسول الله محبت زياتوي ددردويونکيته الله درسول الله په خوب کي ليدل اودقيامت په ورځ به ورته مصافحه (غاړه په غاړه روغبړ)ورنصيب سياوددې سړي سره فرشتې هم مصافحه اومرحباوائي.دردشريف فرشتې دسروزرواوچاندي په قلم باندي ليکي اودالله څخه ددغهويونکيدپاره مغفرت غواړي.ورسول الله ته درداسي رسيږي چي فلان امتي پرتادردوائيکه څوک درسول الله مقبرې ته ولاړسياوهلته دردشريف اوسلام وائي نورسول الله هم په دغه سړي باندي سلام وائي نودرسول الله سلام چي دچانصيب سي دادلکولکوکراماتوڅخهافضل دي.ددردشريف خاصيت دادي چي تردرې ورځوپوري ئي دويونکي ګناه نه ليکل کيږي.په دې وجه چي شايدداسړي توبه وکاږي نوګناه به ئي ختم سي.ددردپه برکت به سړي دعرش درسايه لاندي ودريږي.ددردويونکي دترازوپله به په ورځ دقيامت درنه وي اودقيامت په ورځ به دتندي څخه په امن وي.رسول الله بعضې بزرګان پرخله مچ کړي دي ځکه چي دوي به دردشريف ډيروايه.دچاپه غوږکي چي شوراوږووي

(c) ketabton.com: The Digital Library


بايددردشريف په كثرت سره ووائي اوورسته داكلمات ووائي.ذكر الله بخيرمن ذكر ني.الله□دي موږټولوته ددردشريف دويلوتوفيق رانصيب كړي اوددې په بركاتودي موږمستفيدكړي.

الهم صل علي محمد واله وازواجه وذريته وبارک وسلم.

## يادونه:

الله□دي موږټولومسلمانانولره داكتاب طب نبوي درحمت ليږلوسبب وګرځوي امين ثم آمين په اخر كي ټولومسلمانانواوخاص كرددې كتاب ويونكي لره خواست كوم چي ماوزماموريلاراستادان اوحقداران اوددې كتاب كاتب اومصنف اونشركونكي ټول په دعادخيركي يادكړي.

# تمت بالخير

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library